# روڼ اندی ځوان

(خپل پټ هنر رابرسېره کړئ!)

لیکوال: عبدالوهاب مومند

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



.............کتاب پېژندنه:.........................................................................................................

د کتاب نوم: **روڼ اندی څوان**

لیکوال: **عبدالوهاب مومند**

اړیکه: **0749043834 ـ wahabmomand90@gmail.com**

چاپ زیار: **بغلان ادبي بهیر**

خپرندوی: **نور خپرندویه ټولنه**

کمپوز: **خپله لیکوال**

چاپ شمېر: **۱۰۰۰/زر ټوکه**

چاپ وار: **لومړی**

چاپ کال: **2021 زېږدیز ـ ۱۳۹۹لمریز کال**

کچه: **رقعي**

اړیکه: **0777 314 202/0788 621 800 noor.books2014@gmail.com**

..........................................................................................................................

ددې کتاب چاپ، پر وېب پاڼو او ټولنیزو رسنیو د خپرولو حقوق له خپرندویې ټولنې سره خوندي دی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ:

پلار جان او ادې جانې ته مې چې د ژوند له رحمت
څخه يې برخمن يم.
ع . و . مومند

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک

اندونه او پندونه ........................................................ د
روڼ ژوند ........................................................................ ر
د لونګ دانه ..................................................................... س
تکل او موخه ....................................................................2
د وخت مدیریت...................................................................4
ریالېسټ ........................................................................7
ایا شوني ده چې یوه منل شوې خبره واوسو؟ ......................................8
زده کړه تجارت مه ګڼئ!..........................................................9
سختیو ته بلنه..................................................................10
سکون او ارامښت ...............................................................11
د لوستلو ذوق ..................................................................13
د نوي لپاره کومه کتابونه ولولو؟ ..............................................14
ښه کتاب، ښه ملګری...........................................................15
ژوند یوه ازموینه ده!............................................................17
د ژوند کره کتونکی.............................................................19
روڼ اندی ځوان ...............................................................21
د فکر شتمني....................................................................22
ته بریالی يې!....................................................................24
انعطاف.........................................................................25
انسان او ژوند ..................................................................26
په یاد ولره! ....................................................................29

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا ځلې پرواز ........................................ 30
تجسس ........................................ 31
بدلون ........................................ 32
تقدیر ........................................ 34
نقال اندونه ........................................ 36
جوړښت که خوځښت؟ ........................................ 37
ښنگه کولی شو په یوه ښانگه کې کار پوه واوسو؟ ........................................ 39
خیال او تصور رامنځته کړئ! ........................................ 43
خیر مو په یووالي کې دی! ........................................ 46
د ذهن ورزش ........................................ 48
په یوه لاره دوه ځلي مه ځه! ........................................ 50
رواني اندیښنه ........................................ 52
ولې زما وخت ضایعه شو؟ ........................................ 54
نژدې خارنه ........................................ 56
له مخپانې نه ښنگه گټه پورته کړو؟ ........................................ 57
مثبت یا منفي ........................................ 59
یو موټی خاوره ........................................ 61
فکر او عقیده ........................................ 63
له طبیعت ښخه یې زده کړئ! ........................................ 64
له (هیڅ) ښخه یې پیل کړه! ........................................ 65
له وخت سره د ځان جوړښت ........................................ 67
فکري منطق ........................................ 69

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړې نړۍ تا وګوري! ..................................................... 71
عزت په ذلت مه پلورئ! ..................................................... 73
عبادت او دعا ..................................................... 75
صبر او حوصله ..................................................... 77
ښه نوم په نړۍ پرېږده! ..................................................... 78
لوری ..................................................... 80
مخ مه اړوه! ..................................................... 83
ځان ته کتنه ..................................................... 84
اخځلیکونه ..................................................... 86

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اندونه او پندونه

په علومو او فنونو کې معاصرو پرمختګونو نه یوازې یوازې چې فکر او پوهه سره نږدې کړې، اسانه کړې او په ساده ډول د خدمت وړ ګرځولې ده، بلکې د انسان لپاره یې هم د فکر او شخصیت موندنې ټولې کړکۍ پرانېستې دي، اوس دا په موږ پورې اړه لري چې څنګه ځان پیدا کړو او په رڼا کې یې د یوې عالي انسانۍ نړۍ د جوړولو هڅه او خپلو ارمانونو ته د رسېدو هڅه په یوه ګډ هدف بدله کړو.

نن سبا انسان هره شېبه د ورکو شوو حقیقتونو نړۍ ته په نږدې کېدو دی، د بل هر وخت په پرتله د خپل ماضي او راتلونکي سره ډېره ژوره اړیکه لري، ددې اړیکې د پیاوړتیا لپاره مهمه ده چې موږ هر یو د بشري فکر او پوهې په بډاینه کې خپل انساني نقش ادا کړو. دا نقش هغه مهال په ښه ډول ادا کېدلی شي چې خپلې فردي تجربې د انحصار او محدودیت له کړۍ څخه را وباسو، ویې توږو او نورو ته ـ چې له موږ یو قدم شاته دي، یا مخکې په ناسمو پلونو روان دي ـ د یوه لارښود څراغ په بڼه وړاندې کړو.

موږ په خپل ځوان نسل کې ګڼ داسې ویښ ځوانان لرو چې دا مسوولیت یې په ښه ډول درک کړی او تر خپل توانه یې هڅه کړې چې خپل اندونه او تجربې هم لارو همزولو ته وړاندې کړي، ددې ځوانانو له ډلې یو هم ځوان لیکوال او ادیب عبدالوهاب مومند دی. مومند هم په مسلکي لحاظ ادیب دی او هم په بېلابېلو برخو کې د پراخې مطالعې خاوند دی.

د نوموړي له مطالعې او هڅو څخه په ډېره اسانۍ معلومولی شو چې هغه یو نوښتګر او خلاق لوستونکی دی، د ادب، ارواپوهنې، ټولنپوهنې او نورو ټولو برخو مطالعه سرسري نه کوي، په انتقادي او ننګوني نظر ورته ګوري او تر ټولو ښه ځانګړنه یې دا ده چې په خپله دې پوهه او تجربه کې نور هم را شریکوي.

دا اثر د ګران مومند د یوې همداسې ګټورې هڅې پایله ده چې هم معلوماتي اړخ لري او هم یې د اوسني بوخت ځوان د وخت تنګوالي او اړتیا ته په پام سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډون هنر په پامه نه دی غورځولی. دا ټولګې په حقیقت کې له هر بڼه د یوه ګل ټولګه ده چې د بېلابېلو علومو پر مطالعې د روږدې کولو لپاره یې د هغه همزولو ته یوه ډېره ښه او معلوماتي ډالۍ ګڼم.

په دې هیله چې عبدالوهاب مومند له ادب او علومو سره خپله ځوانه اړیکه او ژوره مینه همداسې تانده وساتي او یو مهال یې موږ د لا سترو کارونو، کتابونو او فعالیتونو شاهدان وو. دا ټولګه دې مومند او د کتاب ټولو لوستونکو ته له زړه نه مبارک وي.

مینه او درنښت

ګل رحمن رحماني

۱۳۹۹، د لیندۍ ۱۸مه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## روڼ ژوند

د انسان خوښېږي چې په ژوند کې دې بریالی وي، مخ ته دې ولاړ شي، د پرمختګ لوړو څوکو پسې دې یون ګړندی وساتي، دا یو انساني فطرت دی چې ژوند سوکاله غواړي؛ خو د راتله ژوند درلودل خپل ځانګړي بنسټونه او غوښتنې لري، چې باید پلې شي، د سوکاله ژوند لومړی ګام د ځان سره سوله ده، لیدلی به مو وي چې ناکام انسان له ځانه په تېښته دی، دغه لویه نړۍ کې نشي کولی چې یوازې خپل ځان سره خبرې وکړي، ځان قناعت کړي او خپل ځان سره په سوله کې ژوند وکړي، لوی لامل یې د آرامښت او خپل ځاني سوکالۍ نشتون دی، که ژوند ته یوه د اومه غالۍ مثال ورکړو، دغه اومه غالۍ باید په داسې مهارت او تګلارې سره سم واوبدول شي، چې ظرافت او ارزښت یې وساتي، څو هنرمند له خپل هنره راضي او مینوال یې له نوښته اغېزمن وي. ژوند کې هر څه تصادف ندي، بلکې د کړنو پیل او پای ځانګړو شرایطو او پلان ته اړتیا لري خو نباید هېر کړو چې خپله ژوند هم یوې تګلارې او پالیسي ته محتاج دی، د ژوندانه بېلابېل داسې پلانونه او تجربه شوي مهارتونه شتون لري، چې وشو کولی دغه اوږد مزل په ښه ډول تر کنټرول لاندې راولو. زموږ د ټولنې اوسني جوړښت او شرایطو ته په کتو د ارواپوهنې او روحي آرامښ پنځونو ته تر بل هر وخت زیاته اړتیا لیدل کېږي، چې له نېکمرغه په دغه برخه کې لیکوالانو خپلې خواري کړې دي.

په اکاډمیکو پنځونو کې په ځانګړو موضوعاتو کې څېړنې د موضوعاتو څخه ژور لید او د ارزونې پوخ فکر د پنځونې ارزښت ډېر زیات پیاوړی کوي، نو ځکه عمر او تجربه په راتله تحلیل کې ګټور عنصر دی، خو په بېلابېلو برخو کې د مطالعې او مسلسلو هڅو سره دا اوږد مزل رالنډ کېدای شي، عبدالوهاب مومند له عمره کم خو تکړه او هڅاند ځوان دی، چې دا دی د روڼ اندي ځوان ګټور کتاب یې په زیار لیکل شوی. زه او مومند چې ډېر سره نږدې ملګری پاتې شوي یو، هغه یو هڅاند ځوان او د بېلابېلو موضوعاتو په اړه د مطالعې مسلسلې لړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتلو په هڅه کې دی، چې انشاءالله په راتلونکو سرلیکنو کې به یې دغه هنر ښکاره شي.

په پای کې خوږ ملګری عبدالوهاب مومند ته د روڼ اندي څوان کتاب مبارکي وایم، ترڅنګ یې د همداسې ګټورو پنځونو لړۍ جاري ساتلو هیله کوم.

په مینه او ادب

عبدالمبین صافی

بغلان ادبي بهیر

۱۳۹۹/۹/۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لونګ دانه

روڼ اندونه تل مثبت فکرونه راپاروي، پټ هنر د هر انسان په وجود کې شتون لري او د پټو وړتیاوو رابرسېره کول خپله بریا ده، چې موږ پرې د ژوند لوری ټاکلی شو. دا چې یو ځوان څنګه کولی شي خپل فکر منسجم کړي، د خپل موخه وټاکي، وخت ته څنګه ارزښت ورکړي، څنګه کولی شي چې وخت څخه سمه ګټه پورته کړي او د بریا خواته تکل وکړي، داسې او دېته ورته نورې لارښوونې په دې کتاب کې نغښتې دي، چې ډېرى يې هڅوونه، تګ لاره، د فکرونو بدلون او د پرمختګ رازونه په کې لړلیک شوي دي، داسې هم نه وایم، چې دی نه دی همدا کتاب دی خو سترګې ترې څکه پټوی نه شو، چې د یاد کتاب په لیکنو کې د نامتو لیکوالانو هغه تجربې ځای پر ځای شوي چې د لوستونکو لپاره ګټورې بلل کېږي او ترڅنګ يې هڅه شوې، د یو ځوان په توګه نورو ځوانانو ته داسې اړینې تګلارې په ګوته کړم، چې باوري یم په درد يې خوري.

د کتاب په سمون او اډېټ کې له ښاغلو: وحید وطنیار، استاد ګل رحمن رحماني، استاد شرف الدین عظیمي او عبدالمبین صافي څخه نړۍ مننه چې خپلې نیکې مشورې يې له ما سره شریکې کړي او د هېڅ کتاب نه يې جوړ کتاب منظم کړ، الله تعالی دې دوی ته اجر کریم په دنیا او اخرت کې ور نصیب کړي.

هېره دې نه وي، دا کتاب زما له خوا د ډالۍ په توګه د لونګ یوه دانه وبولئ! نه غواړم نور تاسو درانه لوستونکي انتظار ته پرېږدم، دا هم تاسو او دا هم روڼ اندی ځوان. خدای دې وکړي څنګه چې زما مراد دی، همداسې روڼ اندی کتاب ډېر روڼ اندي ځوانان وروزي چې خپل ځان او وطن ته د خدمت جوګه شي، خو په یاد ولرئ! که هر کله مو ماته وخوړه نو تاسو یوه شئ چې بریا ډېره نژدې ده، حوصله مو له لاسه مه ورکوئ، پاڅئ او بیا مخ پر وړاندې تکل وکړئ، لکه حمزه بابا چې وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



روان وم حوصلې مې که لوېدلې پاڅېدلې
اخر مې له همت نه مرحلې وشرمېدلې

په ډېرې مینې
عبدالوهاب مومند
۱۳۹۹ د لیندۍ ۲۹مه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تکل او موخه**

د سترو موخو لپاره واړه گامونه ډېر اړين دي چې مونږ ته لوړو پوړيو پورې رسولای شي. هوډ د مزل لومړی تکيه ده چې بريا يې عمل پورې تړلې ده. هره موخه يو هوډ ته اړتيا لري، بيا هر هوډ يو چار(عمل) ته انتظار کاږي. ژوند په تکل کې دی ځينې ترېنه ښه گټه پورته کوي او ځينې ترېنه بيخي لا اغېزمند شي چې نه شي کولی د خپل ټاکلې موخه په گوته کړي. تکل او موخه دواړه فکري او بدني ځواک ته اړتيا لري؛ تکل بدني ځواک انرژي مصرفوي چې د خپل ټاکلي مزل ته پلي شي او بيا موخه فکري ځواک ته اړتيا لري، څو لوړو پوړيو ته د رسېدو تصور وکړو. خوشحال خان ختک د هوډ او موخې رسېدو لپاره داسې وايي:

تر مطلبه پورې شرط دې رسېدو دی
که تمامه لار په وينو الوده شي

نو بناً د بريالي ژوند او د خپل موخې تکل لپاره هوډ او عمل ته اړتيا شته ده چې بايد وپالل شي. د تکل او موخې لپاره دوه ډوله کسان شته دي، يو ډول يې تکل کوي خو موخه نه لري، صرف ژوند کوي او د خپل ورځني اړتياوو پوره کول غواړي، خو دويم ډول کسان بيا تکل او ټاکلې موخې لري خو د عمل په بڼه يې نه څرگندوي، يانې د لږو ستونزو د رامنځته کېدو له امله تکل او موخه تر نيمې لارې پرېږدي او پر شا تگ غواړي. د خوشحال بابا پورتنی بيت موږ ته په ډاگه راڅرگندوي چې تکل او موخه يو شرط د رسېدو لپاره غواړي، هغه هم ستونزې گالل دي.

نو د ستونزو په اړوند روبين شرما وايي، (ستونزې فرصتونه وگڼئ! يانې څو چې يو څو تارونه غلط ونه شرنگوئ، تر هغې رباب نه شئ زده کولای او څو چې د کښتۍ غاړې ته لاړ نه شئ او ځان اوبو ته ونه غورځوئ، لامبو نه شئ زده کولای.) ددې خبرې په اړوند د موخو تکل لپاره ستونزې هغه کاڼې دي چې بايد د تگ پر وخت له مخې پورته شي. که درانه ؤ، نو وخت ته اړتيا لري که په لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوځېدل، نو له سره يې بايد ټوپ ووهل شي، چې بيا وخت د ټاکلي مزل لپاره اړين دی، چې بايد پام ورته وشي. تکل او موخه بايد د خپل تر ظرفيته پورې په نظر کې ونيسو، چې بيا هوډ او عمل له ظرفيت سره ټکر ونه کړي. شايد د ظرفيت له مخې په تکل او موخه کې هم ستونزې وي خو ګالل يې اړين دي، چې په دې ترڅ کې ښاغلی وارن بافت وايي، (زه په دوه متره خنډونو پسې نه ګرځم، چې اړ شم د هغه پر سر ټوپ ووهم، بلکې هڅه مې دا ده چې له نيم متره خنډونو سره ځان مخامخ کړم څو وکولای شم په اسانۍ سره د يوه ګام په اخېستلو ترې تېر شم.) هغه څه مو چې په تصور کې راګرځي او د تکل کولو لپاره شونی بلل کېږي نو هوډ او عمل لازمي توکي دي چې بايد هر انسان يې خپل د ژوند سره کرښه وبولي. نو په تکل کې خواږه څېزونه هم مخې ته راځي خو د خپل موخه مو اړ باسي چې د خپل ټاکلي مزل کې يون يا پلي واوسو. لکه دا بيت:

نه ګرځي هوښيار خلک خوږو پسې
خپل منزل ته ګوري او مزل کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د وخت مدیریت

زمونږه ژوند یوه اداره ده چې ددې مدیریت لپاره باید مونږه ځانګړي پلانونه جوړ کړو. زه هر سهار وختي له خوبه را پاڅېږم او د سهار یوه ګړۍ زما د ورځني موخو لپاره زرین چانسونه دي. په دې یوه ګړۍ کې زه کولی شم په ارامه فضا د خپل خوښې کارونه تر سره کړم یا هم وخت لیکوالي ته ځانګړی کړم یا هم د خپل دې خوښې کتابونه مطالعه کړم. نو ځکه روبېن شرما وايي، (د سهار یو ګړۍ وخته پاڅېدل؛ ورځ به تا نه مدیریت کوي، ته به ورځ مدیریت کوې.) که د خپل عادت بدلون لپاره یوه ورځ په ټاکلي مهالوېش باندې پیل کړو دا به زمونږ لپاره لوړ ستونزمن؛ خو موده وروسته ورسره عادت کېږو. غوره تګلاره ده چې د واقعي مدیر په توګه موږ باید د خپل ورځني کارونه په یو سپین کاغذ کې ولیکو او په ټاکلي مهالوېش باندې يې ووېشو، چې وروسته يې په ترتیب سره ترسره کړو نو په داسې توګه د وخت له ضایعه کېدو مخنیوی او د ژوند واقعي مدیر بلل کېږو.

### ۱ـ وخت ساتنه

وخت ساتنه د مدیریت لپاره یوه بله مهمه ځانګړنه ده؛ کله چې خپل کارونه مهال وېش له مخې ترتیب کړو، نو بیا اړینه ده چې د خپل کارونه په ترتیب سره پای ته ورسوو. (یوه ورځ د کتاب پلورنځي په تمه له کاله څخه بهر شوم، له کاله څخه بهر کېدم، پلار مې راته کړل: بچیه! مخکې له ماښامه یو ځل ما څنګې راشه... پلار ته مې وعده ورکړه چې حتمن به درځم. په موټر کې کښېناستم، تمه مې دا وه چې کتاب پلورنځي خواته لاړ شم. مسیر مې یو ؤ، ما ویل: راځه! یو چکر د ملګرو اتاق خواته لاړ شم، بیا به وروسته کتاب پلورنځي خوا ته را وګرځم. د ملګرو په اتاق کې ډېر زیات بوخت شوم. لاسي ساعت ته مې سترګې کړې چې ۳:۳۰ بجې وې. چابک له اتاقه بهر شوم. بهر د موټرونو ګڼه ګوڼه هم ډېره وه. شېبه په شېبه لاسي ساعت ته مې سترګې کږې کولې. وخت داسې تېرېده لکه ډنډ اوبو ته چې لاره پرانېستل شي. موټر ته وختم. له یوې کتاب پلورنځي څخه تېر شوم ما ویل هغه وړاندې کتاب پلورنځي کې به کتاب مینده شي. بې پروایي مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه. ولې له لومړي کتابپلورنځي څخه تېر شوم؟ کېداې شي هلته به کتاب پيدا شوې واى. له موټره ښکته شوم. په کتاب پلورنځي کې مې ډېر وخت تېر کړ خو هغه کتاب چې ما غوښته هلته مينده نه شو. له پلورنځي څخه بهر شوم. ځان سره مې ضد وکړ، ما ويل هغه کتاب به هرو مرو ترلاسه کوم. ډېره لاره پياده پلې شوم، په موټر کې کېنناستم، پيسې راسره لګې وې. له همغې کتابپلورنځي څخه چې تېر شوى وم. بلاخره بېرته همغې کتاب پلورنځي ته راوګرځېدم. څه وخت نور هم د کتاب په پلټلو کې ولړېده. لړې شپېې ووتې، ساعت ته مې سترګې خښې کړې چې ۴:۳۰ وې. ژر په موټر کې کښېناستم پلار ته مې وعده ورکړې وه خو شل شپېې وروسته ماښام ته پاتې وې او د موټرونو ګڼه ګونه ډېره او لارې هم ډېرې بندې وې.) نو په دې اساس بريالي کسان تل د خپل کارونه په وخت او په ټاکلي مهالوېش باندې په ترتيب سره پاى ته رسوي او دا ټمه نه کوي چې وروسته به يې ترسره کړي.

**۲ـ هر څه ته وخت وټاکئ!**

بريالي کسان تل هڅه کوي او ددې په لټه کې دي چې د خپل کارونه په وخت سره ترسره کړي. دا يو ناشونى کار ده چې د ډوډۍ خوړلو په وخت کې مطالعه وکړو يا هم د مطالعې په وخت کې له چا سره روغبړ وکړو. هر څه نه يوه ټاکلي وخت کې خوند اخيستلى شو. د يوه بريالي مدير په توګه وخت بايد مديريت شي او د هر څېز لپاره ځانګړى وخت وټاکل شي. موږ په يو لاس نه شو کولى چې هم د اوبو او هم د چاى پيالې په يو وار سره پورته کړو نو اړ يو چې په دمې سره يې وڅښو. د پښتو مهشور متل دى چې (دوه هندوانې په يوه لاس نه نېول کېږي.) نو پر مخ تللي ټولنې د وخت مديريت ته ارزښت ورکوي.

**۳ـ وخت سره زر دي!**

مونږه کله نا کله له ځانه پوښتو چې وخت سره زر دي خو بيا هم وخت نه ښه ګټه نه پورته کوو، هغه ددې لپاره موږ دې ته د خپل پام نه اړه ۆ، چې څنګه کولى شو وخت مديريت کړو؟ ګومان کوم، کېداى شي ژوند ته ټاکلي پلانونه ونه لرو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږه لويه ستونزه دا ده چې له ځان سره يادښت يا هم شارټ نوټ کتابچې نه ګرځوو، ښه مدير تل غواړي چې د خپل کارونه په يادښت کې وليکي او د وېشلو لپاره يې په سمه توګه پای ته ورسوي. نور عمر په خپل [زه ولې وروسته پاتې شم] نومي اثر کې وايي، (فرض کوو؛ وخت يوه اداره او اداره بايد مديريت شي نو اړين برېښي مديريت ته بايد پلانونه مطرح کړو.) بلافاصله که وخت نه مو ښه ګټه پورته کړه له نورو نه به يو ګام وړاندې ياستو او د بريالي کسانو په کتار کې به شمېرل کېږو، نو ځکه بريالي کسان تل وايي، « وخت سره زر دي او د سرو زرو قدر له زرګر سره وي. »

**۴ـ هره ګړی غنميت وګڼئ!**

رښتونی کار کول مونږه د خپل موخې ته رسوي؛ ياني هره ګړۍ بايد غنيمت وګڼو او ترې ښه ګټه پورته کړو. رښتونی کار کول، مطلب په يوه ګړۍ کې يو پلان په مثبت او په اخلاص سره بايد پای ته ورسوو، نه دا چې په يوه ګړۍ کې دوه بې لاسته راوړنې پلانونه! کنفسيوس همدا خبره کړې ده، (ځوک چې په دوو سويو «خرګوش» پسې منډې وهي، يو هم نه شي نيولای.)

په پای کې د مديريت يوه عالم پېټر ډراکر ويلي، (تر ټولو بې ګټې کار، په ښه او ګټوره طريقه د هغه کار کول دي چې بايد هېڅ ونه شي.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ریالېستې

په معاصر اقتصاد کې مهم توک رښتینولي ده، زموږ د کار پايیزه په دې نه تلل کېږي چې موږ ډېر زیار کښلی دی، بلکې زموږ د کار پای راوړنه په ارزښت، څومره والي او څرنګوالي باندې څارل کېږي. د تاریخ مخکښو څېرو یوه ښېګڼه دا وه چې هغوی د خپل کار ته د ارزښت په سترګه کتل او ریالېستې یې خوښووله. تل به ددې په فکر کې وو چې په زیار سره نورو ته ګټه ورسوي. د نړۍ ګڼو هېوادونو وتلي تاریخي څېرو لکه د هندوستان مهاتما ګاندي، د سویلي افریقا نیلسن منډېلا او په دننه هېواد کې فخر افغان خان عبدالغفار خان... هغه رښتینې څېرې دي چې د عدم خشونت، عدم تشدد او د علم کاروان پلي کولو کې یې رښتینې هڅې کړې دي؛ همدارنګه ګاندي او منډېلا د خپلو ولسونو د خپلواکي په لور کار کاوه. نوموړو څېرو په راتلونکي نسل کې د ویښتابه او د ګټو په چار باندې یو ریالېستې کار پلي کړی ؤ، چې د خپل چارو ته یې د مینې په سترګو کتل، چې په زیار او قرباني ورکولو سره لاسته راوړنې یې ومونډلې.

د صابر شینواري [فاصله په فاصله د انسان] کتاب مې لوسته، په یاد کتاب کې مې د (ریالېستې) په نامه یوه لنډه کیسه ولوستله، ددې کیسې په لوستلو کې مې د ژوند دوه اړخونه را ومونډل، چې ژوند یوازې په ریالیزم باندې پای ته نه رسېږي، له ریالیزم سره رومانتیزم هم مهمه برخه اخلي، یانې د کار له رښتینولي ترڅنګ د کار مینه هغه توکي دي چې د ستونزو په رامخته کېدو کې ورسره مبارزه کوو. د اپل کمپنۍ اوس په نړۍ واله کچه یوه پر مختللې کمپنۍ ده، ځکه چې یاده کمپنۍ د زیار ترڅنګ یوه ریالېستکي مبارزه یې هم پلي کړې ده، تل کوښښ کوي چې د نورو سیالو کمپنیو سره سیال شي او د سوداګرو تر لاسونو پورې پر کیفیته مواد ورسوي. اپل کمپنۍ دا انګیزه (توخه) سوداګرو ته وربښلې ده چې د اپل نوم په اورېدو سره یوه اصیله څیز وبولي، ځکه اپل کمپنۍ په ریالېستې بحث کې بریالی ثابت شوی. د همدې مثال په ترڅ کې د پښتو نامې متل دی (بې زحمته راحت نه شته) نو په واقعي ډول زیار وکښه چې لاسته راوړنې مینده کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ایا شونې ده چې یوه منل شوې څېړه واوسو؟**

دا هغه پوښتنه ده چې تل به زما په فکرونو کې تاوېدله، څنګه کولی شو چې یوه منل شوې څېره واوسو؟

د ټولنیزو په اړیکو کې راشه درشه یو اصل دی او د رښتینو ټولنیزو اړیکو ټینګول ډېر ستونزمن رابرېښي. د نورو پر وړاندې د خپل وړتیا ښودل په زوره نه کېږي، دا یو ناشونی کار دی چې د یوې ټولنې د وګړو ترمنځ په زوره توجو راوکاږو، دا یو بې ګټې کار دی، بلکې په زیار او رښتینولي سره دا قضاوت ټولنې ته باید پرېښودل شي، چې څه قضاوت کوي؟ ما د همدغې سوال په ترڅ کې څېړنه او مطالعه وکړه، (ته چې ومرې څوک به ژاړي) په کتاب کې د کرستوفر مورلي یوه ډېره جالبه خبره رامخته شوه. نوموړی وايي، (هره ورځ داسې څه ولوله چې نور خلک يې نه لولي، داسې فکر وکړه چې نور خلک يې نه کوي، نورو سره يو ډول او یو رنګ اوسېدل ذهن ته ګټه نه لري. په دې ترڅ کې فکري او بدني ځواک باید په حرکت راولو، چې تیار غوښتونکي ونه واوسو، په فزیکي او ذهني کار باندې يې لاسته راوړو.) نو بناً توپیر او ډېر زیات زیار کښل چې یوه ریالېستېکي هدفمندۍ په کې نغښتې وي، تر څو چې زموږ وړتیاوو ته جلبې توجو وشي او داسې ګټوره پای ته رسېږي.

**ـ کار وکړه چې نور ترې ګټه پورته کړي!**

یوه ریالېستېه موخه تل د نورو په ګټو وي، مهاتا ګاندي، نیلسن منډېلا او فخر افغان خان عبدالغفار خان... یو ریالېستېکي یون پیل کړ، چې په پای کې د خپل نومونه يې تاریخ ته وسپارل او اوس د وتلو څېرو په نامه یادېږي. که د کار ساحې مو جلا وي باید د خپل دندو ته په مینه او په رښتوني ډول کشف، لیکوالي، اختراع، نوي نسل ته طرحې، پلانونه او صنعتي غورځنګ... رامنځته کړو تر څو چې نور وګړي ترې ښه ګټه پورته کړي، نه! دا چې د عبدالرحمان بابا دا بیت:

هر سړی د خپل مطلبه پورې یار دی     ما د خدای لپاره یار لیدلی نه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زده کړه تجارت مه ګڼئ!

د هغه هېواد وګړي چې د پرمختګ پر لور لکه د شېبو غونډې تګ نه کوي او یا ډېر ورو ورو پر وړاندې روان وي، شاید ددې لامل غربت وي اما یو بله ستونزه چې دوی زده کړه د تجارت په توګه کاروي، یانې د غریب هېواد وګړي له ابتدایي پړاو څخه دا فکر د خپل په دماغ کې ځایوي چې زه به په راتلونکي تر یو ټاکلې حده پورې زده کړه کوم، چې وروسته پرې یوه ښه دولتي دنده ترلاسه کړم او د زیاتو مادیاتو خاوند به شم. د غریبو هېوادونو څخه لېرې که پر مخ تللو ټولنو ته ورشو نو هلته بیا دا ایډیا (نظریې) لکه ځمکه او اسمان توپیر کوي، ځکه هغوی زده کړه د پوهې لپاره لولي او دا تمه په راتلونکي کې لري چې د ژوند او د پوهې په معیارونو او د څېړنو په چارو باندې ځان پوه کړي ځکه خو په معاصر وخت کې ددې شاهدانو یوو چې تر غریب هېواد څخه د پر مختللو ټولنو کشفیات او پنځوونې بې سارې لیدل کېږي او د حکمرانۍ یادوونې څخه په پټو سترګو تېرېږو...

زده کړه او د پوهې پانګوونه د علم له لارې برخمن کېږي، دا چې یو داسې فکر د یوه تنکي ځوان په ذهن کې را وګرځي او د خپل خیال پردازي پرې وکړي، چې تر یو ښه دندې پورې د خپل اسنادي زده کړې ته دوام ورکوي خو له هغه وروسته به زده کړې ته د پای ټکی کېږدي، چې دا بیا په بې سوادۍ او په ناپوهي پورې تړاو لري، خو په پر مختللو وګړو کې بیا د زده کړې حدود تر ژونده پورې محدودېږي او دا پاینټ په پنځوونو باندې مثبت اغېزه ښندي او د پوهې بډایتوب لامل ګرځي.

نو که زده کړه تجارت وګڼو او د تجارت په توګه یې وکاروو، نو ناشونې ده چې د علم د لمن یوه ببڅکه را کلکه کړو خو که زده کړه د زده کړې او پوهه د پوهې لپاره وڅارو نو ښه لید لوری د خپل په غېږ کې لرلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سختیو ته بلنه

الله تعالی په خپل کتاب قران عظیم شان کې ویلي ( اِنَّ معَ العُسرِ الیُسراً ) بې شکه چې هر سختۍ پسې اساني شته، نو هر انسان چې سختیو ته بلنه ورکړه او د غرونو له لوړو پوندېیو نه واوښته او له سینې څخه یې د استقامت سپر جوړ کړ، په تحقیق سره هغه انسان بریالی دی. که موږ د اسلام ستر رهبر حضرت محمد (ص) روڼ تاریخ ته د شالید نظر وکړو نو په ډاګه را څرګندیږي چې د اسلام ستر فرهنګ یې په کومو ستونزو او سختیو سره د هر مسلمان په رګو کې لکه وینو غوندې جاري کړ، همدارنګه هغه مبارک یوه ورځ طایف قام خواته روان شو او طایف قام ته یې علني تبلیغ پیل کړ، چې ورروسته د طایف قام وړو ماشومانو له خوا په کاڼو باندې له ښاره بدرګه شو او د هرې کاڼو په لګېدو سره د هغه مبارک له سپېڅلي وجود څخه سرې وینې جاري کېدې خو بیا هم د اسلام ستر پیغمبر د الله تعالی په مرسته او په سړه سینه د خپل مبارزه د یهودیانو او مشرکینو پر وړاندې د ظلم طاغوت مات او لاهو کړ.

دا یوه طبیعي خبره ده چې هرې موخې ته تر رسېدو پورې سختي او د ستونزو ګالل لومړی شرط دی چې سړه سینه او استقامت ورته یو اصل تاکل شوی دی، چې د سختیو له شا تګ څخه ماته بلل کېږي. هیټلر، زما جګړه نومې کتاب کې یادوونه کړې ده، چې د خپل د ژوند، سختیو او ستونزو په ترڅ کې داسې مقام ته ورسېد چې نړۍ کې د ټولو سره سیال شو او د سبا لپاره یې د مبارزې تاریخ پرېښود. همدا شان خان عبدالغفار خان هم د تشدد له ناخوالو څخه نورو ته پوهاوی ورکاوه چې د مبارزې په پېر کې د ګوتو له شمېر څخه ډېر ستونزې او بند خونې یې ولیدې چې په پای کې ډېر خدمت یې پښتنو ته وکړ. د مثال په توګه د ګاندي د پښو مزل هم د هېواد خپلواکۍ لپاره د سختیو له پولو څخه اوښتی او د استعمار پر وړاندې رهې شوی دی. نو بناً هرې سختۍ پسې اساني شته او د خپل موخو لپاره هلې ځلې، ستونزې او تربږې یوه ځته بلل کېږي، هر چا چې ستونزې ګاللي هغه حتمن راحت لیدلی، لکه د پښتو مشهور متل دی، بې زحمته راحت نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سکون او ارامښت

ژوند له خوښیو او کړاونو څخه تعرفېږي نو ښادي او غم دواړه له یو بل سره په ټکر کې واقع دي لکه خوږ او تریخ؛ نو ژوند هم په یو څیز باندې خُلاصه شوی نه ده، بلکې دواړه څیزونه له یو بل پسې جوخت روان دي او دا د ژوند یوه طبیعي خبره بلل کېږي نو اوس پوښتنه دلته راپیدا کېږي چې سکون او ارامښت په دواړو حالتونو کې موندلی شو، خو څنګه؟

سکون او ارامښت د ژوند یوه لویه برخه تشکیلوي، ځکه چې اکثره کسان د ژوند د سکون او ارامښت لپاره هلې ځلې کوي خو دا ارامښت موږ په خوښۍ او ناخوښۍ کې څنګه ترلاسه کولی شو؟ په ارامښت کې ولې موږ د خوښۍ خبره رامخته کوو، خوښۍ خو خپله له ارامښت څخه رازېږي؟ ایا خوښۍ هم له ارامښت سره تړاو لري او که نه؟ هو بلکل! خو په غربي نړۍ کې بیا توپیر لري، هغوی له مادیاتو او ټکنالوژۍ څخه غني ښکاري، په ټولو څیزونو کې د معیشت او خوښۍ په حالت کې دي خو یو څه د هغوی په منځ کې شتون نه لري چې هغه روحي او قلبي ارامښت بلل کېږي او همدارنګه د هغوی په منځ  کې د ځان وژنې ګراف هم په همدې وجهې لوړ لیدل کېږي... پوښتنه دلته ده، چې ولې په غربیانو کې ظاهري ارامښت شتون لري خو روحي نه؟

د سکون او ارامښت موندلو لپاره په مقدس اسلام دین کې ډېر څیزونه توصیه شوې دي خو زه به یې دلته یو څو ډوله راوړم. **لومړی:** د نورو لپاره نیکي د ځان ارامښت رامنځته کوي؛ کله چې تاسو پوه شوئ، د ستونزو ګراف مو لوړ شوی ده، نور ارامښت در سره مل نه وي نو تاسو د نورو لپاره نیکي وکړئ ځکه چې الله تعالی نیکي کوونکي خوښوي او نیکي کوونکي له نیکوکارانو څخه بلل کېږي، که په لاره مو د مرستې لپاره اړتیا ولیده نو مرستندوی ورته شئ، د اړمنو لپاره خواړه ورکړئ، د ړندو لاس نیوی وکړئ او خوارو ذهیر ته ملګري شئ نو تاسو به ووینئ چې د سعادت غېږه له تاسو څنګه راچاپېرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دویم:** زړونه د الله تعالی په یاد سره ارامښت مومي: الله تعالی خپله فرمایلي دي: (الا بی ذکرالله تطمع ان القلوب) بې شکه د خدای په ذکر باندې زړونه ارامښت پیدا کوي. الهي ذکر د ځمکې جنت بلل کېږي، که موږ ددې فاني دنیا په جنت کې ځای ونه مونده نو د ابدي نړۍ په جنت کې به څنګه ځای ومومندو؟ نو د الله تعالی ذکر جسمي او روحي سکون موږ ته را په برخه کوي، په ژوند کې د بریا او توکل لارې را اسانوي. کړاونه، افسوس او پرېښانۍ د الله تعالی په ذکر سره لېرې درومي، څکه چې د زړونو رښتونی پاچا همغه واحد لا شریک ذات دی، همدارنګه د سکون او ارامښت موندل یوازې د الله تعالی په ذکر سره لاسته راځي او بس.

دریيم: لمونځ؛ لمونځ د سکون او ارامښت لوی راز بلل کېږي، څکه زموږ خوږ پیغمبر لپاره کله چې غم او اندېښني رامخته کېدې نو د لمانځه خواته یې مخه کوله او حضرت بلال ته به یې ویل: (ای بلاله! موږ ته اذانه وکړه چې تر څو راحت ومومو.) نو تر هغو چې ستاسو د اندېښنو اوښکې ستاسو باڼه او سترګې سوځوي نو لمونځ مه هېروئ او باید لمونځ د بریا او د ژوند راز وبولو. نو اوس د مسلمانانو او کافرانو تر منځ د سکون او ارامښت موضوع راڅرګنده شوه چې مسلمانان د زړونو ارامښت لري خو کافران ترې محروم پاتې دي. د خوښۍ او ناخوښۍ لپاره د سکون او ارامښت میندل یوازې په ذکر او د الله تعالی په یاد سره ترسره کېدای شي، نو کافران هر څه لري خو روحي سکون نه بې برخې دي. همدارنګه سکون هم په دوه برخو وېشل کېږي چې یو بدني سکون وي او بل قلبي سکون، چې باطني یا روحي سکون هم ورته وایي، چې ټوله یوه مانا ښندي. بدني سکون په مادیاتو راتللی شي خو قلبي سکون د الله تعالی سره د راز او نیاز په ترڅ کې رامنځته کېږي. څکه شاعر وایي:

چې یې ذکر د رحمان نه کړي خاونده!
نه سکون نه ارامښت مومي هېڅوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لوستلو ذوق

ذوق د کتاب لوستنې لومړی شرط دی خو په خپل سرې اخېستنه يې د لوستلو په مهال مو؛ یا به کتاب په نیمه پرېږدو او یا به له لوستلو يې د ستړيا اسوېلي له خولې را وکاږو، ځینې کتابونه جذبوونکي نه دي، شاید خبره زمونږه ذوق سره تړاو ولري. زما په اند کتاب د مینې لوست ته اړتیا لري چې باید په ډېرې علاقې سره مطالعه شي. د ادبیاتو کتابونه خامخا له هنر سره اړیکه لري او هنر طبعاً له ښکلا زېږنده څیز دی، چې په لوستلو يې د ذوق کیف پرې ماتېږي خو زما لپاره تاریخي یوازېني کتابونه دي چې له ذوقه لېرې او د مالوماتو زیاتېدو لپاره يې لولم چې خامخا ستړیا هم ورسره نغښتې وي، شاید ځینې د ذوق خاوندان ورسره علاقه وښيي.

کله چې زه یو لوی کتابتون ته ننوځم سرګردانه او لالهانده شم، فکر مې کار پرېدي او لاسونه مې د فکر څېړنې ته تم کېږي، حیران پاتې شم چې ژر کومه کتاب مطالعه کړم نو پوښتنه دلته راولاړېږي؟ چې هر کتاب باید مطالعه شي؟ نه! د فکر ګډوډېدل، لالهاندیا، تم کېدل، دا ټول ټکي ذوق ته سپارو چې ذوق مو کومه کتاب خوښوي، نو بناً د ذوق کتاب په مینه لوستل کېږي چې د مینې لوست له خوبوړي مطالعې نه لېرې او د مالوماتو راکړه ورکړه به لا ښه ترسره شي.

د لوست ذوق د کتاب د هرې پاڼې په اړولو سره دېته انتظار کاږي چې کله به نوی څیز په کې وموندي چې د خوند او د جالبتیا په ترڅ کې دوه ځلې يې تکرار کړي، ان د درېیم ځلي ګومان هم پکې لیدل کېږي. د ذوق لوست موږ سره د زیات شمېر کتابونو له منځه د ښو کتابونو موندل را اسانوي، مطلب د ښو کتابونو؛ هر کتاب ته باید په درنه سترګه وکتل شي خو ذوق د لوست لپاره اړین شرط دی چې د زیات شمېر کتابونو او د حیرانتیا له لیده لېرې مرستندوی رابرېښي خو دا ذوق له هر چا سره مل نه وي.

د ذوق کتابونه ډېر په دقت او ځیرکتیا سره لوستل کېږي خو د نا ذوق لامل بیا برعکس کړنې ترسره کوي، ان د کتاب پرېښودل هم شونې ده خو ذوق د کتاب لوست لپاره لومړني شرطونه دي چې باید پام ورته وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نوي لپاره کومه کتابونه ولولو؟

خام فکرونه نه شي کولی چې په لومړي ځل د کتاب لوستنه کې علمي یا درانه مطالب برداشت کړي، ممکن ددې وړتیا ورسره نه وي چې د پېچلي کتابونو مفهوم هضم کړي، نو له کتاب څخه د زړه سوړ والي یو علت به همدا وي، چې د نوي لپاره کومه کتابونه ولولو؟ یو وخت مې ټولنیزو لیکنو ته مخه کړه، یو څو مقالې مې ورته ولوستلې، له مقالو څخه برداشت مې ښه کاوه او د مقالو موخې مې د خپل په ژوند کې عملي کولې، یو راز مې دا ؤ چې له ټولنیزو مقالو څخه مې هنر پټوه او هنر ته به مې د عمل جامه ور اغوستله. لږه موده ووته چې ددې کتابونو له مطالعې سره مې فکري پیاوړتیا ژوره شوه، هرې موضوع او بحث ته به مې ژر فکر رسېده، خو ددې کتابونو په لوست سره متواتر د خپل د ښانګې کتابونه مې هم مطالعه کول.

شاید پوښتنه دلته وي؛ چې بغیر له ذوقه څنګه کولی شو د نورو کتابونو پانې هم واړو؟ ددې پوښتنې په ځواب کې ویلی شو چې مهالوېش د خپل په خوښې باید سمون ونه لري، ځکه امکان لري چې لږ سخت څیزونه په لږه ستونزه کې ترسره نه کړو یا هم له مخې یې د لېرې کېدو تمه ولرو. نو بناً د مهالوېش وختونه باید له عادت سره تناقض ونښيي، خو وروسته په لږو ستونزو ګاللو سره لکه درې وخته خوراک غوندې ورسره عادت پیدا کوو، په همدې ترتیب له ذوق نه لږ لېرې هغه کتابونه باید ولولو چې هڅوونکي واوسي، نه! وېروونکي؛ او موږ ته په راتلونکې کې پراخ ذهن راوبښي خو وروسته بیا کولی شو، چې د خپل د ذوق او خوښې کتابونه په پراخه پیمانه ولولو.

د نوي مطالعې لپاره د هغو کتابونو لوست اړین دي چې په لوستلو یې یوه انګیزه، د ستونزو ګالل، د تجربو انعکاس، فکري هڅوونه او د ورځنې چارو رازونه راته رابرسېره کړي او بلاخره (څنګه کولی شو؟) هغه سوالونه راته ځواب کړي چې زموږ په ذهن کې ګرځي. اوس خبره ښکاره شوه چې د ذوق ټاکنې ترڅنګ باید هغه کتابونه ولوستل شي، مثلاً هڅوونکي وي، د فکر حل لارې راته پراخې کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د ژوند تجربو ته مو پاخه او چمتو کړي تر څو د ژوند بریالیتوب او نورې خواوې وپېژونو بیا وروسته او یا هم ددې کتابونو ترڅنګ د خپل د ذوق او ځانګې مطالعې ته هم حق ورکولی شو.

**ښه کتاب، ښه ملګری**

د هر کتاب لوست د ذهن زېرمه پراخوي او د ژوند ښه ملګری بلل کېږي. اروا پوهان په دې اند دي چې د کتاب لوست د انسان تېنشن (اندېښنه) له منځه وړي چې په دې ترڅ کې د عقل پراختیا او د مطالبو ورکړه له ذهن سره ملګری کوي. کله چې موږ یوازې واوسو د غم او خپګان لپاره د کتاب لوست بهترین توکی بلل کېدای شي. کتاب زموږ د پوهې پانګه زیاتوي چې پوهه ګدا له پاچا سره ملګری کوي. کتاب نه یوازې پوهه، بلکې د ښکلي لفظونو یوه وېپانګه هم ګڼل کېږي. د کتاب زده کړه یوه ډېره اسانه او اختیاري زده کړه ده، ځکه چې هغه مهم خیزونه چې موږ له کتاب څخه په یوه میاشت زده کولی شو، همدا زده کړه د خلکو له خولو څخه په یو کال کې هم کېدای نه شي. نو کتاب هغه ملګری، لارښوود، ګاونډی، او همناستی دی چې څومره ورته ځیر شو هغومره استعدادونه رابرسېره کوي او د خبرو جوړښت، د ژبې وړتیا او د ویاندویي مهارتونه در زده کوي. نو کتاب هغه ملګری دی چې شپه او ورځ له تاسره همناستی وي او کله چې زړه دې وي نو کتاب درسره خبرې کوي، همدارنګه کتاب هېڅکله له تا سره د خپګان علتونه نه پالي او تل په ورین تندي باندې ښه راغلاست درته وايي او به خلاصه سینه درسره د زړه خواله کوي.

هر کتاب درسره ملګری وي او له تا سره دا ښه کوي چې تا د کوڅو له بېکارخېلو څخه او همدارنګه د بېهوده او بې مانا وو خبرو څخه وژغوري. کتاب تل کوښښ کوي چې تا ته مرموزه او ښه وینا در وښيي. په بېکاره وختونو کې باید کتاب ولوستل شي، ځکه کتاب تا ته د اخلاقو کړنې در زده کوي او د ناوړو کړنو مخنیوی کوي. نو هغه کسان چې کتاب لولي او د مطالعې پر ارزښت باندې پوهېږي، هغوی د عقل، تجربو، پرمختګ، ښه مدیر او د دینداری خاوند وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابن جهم وايي: (بې وخته خوب ډېر بد وي، کله چې بې وخته خوب راشي، د حکمتونو څخه ډک يو کتاب را اخلم او هغه مطالعه کوم، همدارنګه کله چې يو ګتور کتاب مينده کړم نو په تلوسو سره د هغې پاڼې را واړوم او زړه مې دا وايي چې ژر پای ونه مومي؛ هر څومره چې د کتاب پاڼې زياتې وي هغومره د خوښۍ احساس را پيدا کېږي.) نو بناً شاعر هم وايي:

کتابونه خو د پوهې استادان وي
چې را زده کړي يو کلام هغه استاد دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژوند یوه ازموینه ده!**

هر انسان چې په دې دنیا کې سترګې وغړوي، لږ لوی شي، لومړی پوښتنه چې خپل ځانه نه پوښتي دا ده، چې ولې دنیا ته راغلم؟ ددې دنیا تقاضا څه ده؟ ایا دا ژوند ابدي ده او که وفا نه لري؟ ددغو پوښتنو په ځواب کې ویلی شو چې ژوند یوه لنډ مهاله ازموینه ده، زموږ خالق واحد لا شریک ذات دی او ددې دنیا تقاضا یوه داسې ازموینه ده چې د اخروي ژوند مستقیم او غیر مستقیمې لارې موږ ته په ډاګه کوي، چې ټاکل یې موږ پورې اړوندېږي. د خپل د خالق عبادت او د هغه د رسول پیروي په مرسته دا دنیا د اخروي دنیا لپاره یوه ډالۍ ګڼل کېږي نو ځکه دا دنیا وفا نه لري او دې دنیا ته د فاني نړۍ لقب ورکړل شوی دی. عبدالرحمان مومند وایي:

ښه ده ښه ده دا دنیا
چې توښه ده د عقبا

عبدالرحمان بابا دا دنیا ښه ګڼي خو په هغه صورت چې ښه عمل په کې ترسره شي، ژوند په واقعي مانا تېر کړو او په عبادت، رښتینولۍ او د سپېڅلي مسلمانانو په توګه دا دنیا د اخرت لپاره یوه توښه وګڼو او که په ناسمې لارې باندې دا ژوند استعمال شي نو دا دنیا توښه نه، بلکې یوه غټه لمبه ګرځي. ښاغلی سید رسول رسا دا دنیا د چیندرو لوبو سره تشبیه کوي او په شعر کې داسې وایي:

د چیندرو په کور کو کې الګوډی دی
ژوند په هر قدم کور ګی دی ډېر په خیال ځه
که دې پښه په کرښه کېښوه لاړې وسوې
دغه دوه سترګې څلور کړه په کمال ځه

«چیندرو یا چینتری یوه لوبه ده، چې ماشومان نجونې او هلکان یې پخپل منځ کې د ساعت تېرۍ په خاطر کوي، دوی څو خانې د مستطیل په ډول داسې جوړوي چې د هرې خانې ترمنځ فاصله ډېره کمه وي، په ځانګړي توګه یوه خانه پکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره کوچنۍ وي که لږه بې احتیاطي ورسره وشي، نو پښه یې په کرښه باندې لګېږي او لوبغاړی لوبه بایلي. شاعر وايي چې ژوند له ستونزو او خطرونو څخه ډک دی، نفس شیطان قدم په قدم باندې سړی تېر باسي، که د شرعي د حدود کرښې نه دې بهر قدم کېښود، نو لاړ ټول ژوند دې تباه شو. په دې دنیا کې باید دا خپلې سترګې د دوو پر ځای څلور کړې، هر شي ته فکر کوه یو یو قدم ډېر په احتیاط کېږده، چې نفس شیطان دې خطاء نه کړي.» بیان(۲۷۷ـ ۲۷۸مخ)

هر انسان دا باید خپل ځان سره تحلیل او وڅېړي چې ژوند یوه ازموینه ده او داسې یوه لاره ده چې تګ لري او بېرته راتګ نه لري نو باید خپل ژوند په سمه لاره استفاده کړو، د ژوند په مدیریت، د وخت په مدیریت، د ځواني په ارزښت باندې پوه شو او خپل ټاکلي موخې ته کلکه ملا وتړو او پر مستقیم لور باندې روان شو، ګنې بیا به پښېماني کومه ګټه نه رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ژوند کره کتونکی

ژوند منفي او مثبت، ښېګنې او بد ګڼې ټکي لري، چې د سمون لپاره يې يو نقاد يا کره کتونکي ته اړتيا شته. همدا د ژوند کره کتونکی لامل ګرځي چې له کړلېچو څخه موږ وژغوري، بدې لارې وڅېړي او موږ سمو لارو خواته بدرګه کړي. ځينې کسان وايي خپل ځان په ايينه کې وګوره؛ دا ددې مانا ورکوي چې خامخا د هغه په ژوند او کرکټرونو کې منفي ټکي ليدل کېږي چې دی ورته متوجې شوی نه ده. نو همدا هېنداره ته درېدل او بيا وروسته د ځان کتنه لامل ګرځي چې خپل منفي کرکټر د بيا کتنو او څېړلو څخه وموندي. کله داسې هم پېښېږي چې د خپل ځان خويونو لپاره سم کره کتونکي نه شو کېدای خو يو ښه ملګری خپل د ژوند کره کتونکی بللی شو چې زموږ منفي کرکټرونه په ګوته کړي او زموږ ښه کرکټرونه وستايي، همدارنګه ښه ملګری هغه دی چې زموږ منفي پايلتونه موږ ته رابرسېره کړي. ددې ترڅنګ انفرادي سمون د يوې ټولنې سمون لپاره ډېر ګټور تمامېږي نو ځينې وخت يوه ګوته بل چا ته، خو څلور ګوتې خپل ځان خوا نيسو؛ دا ددې مانا څرګندوي چې لومړی بايد د ځان سمون وشي نو بيا ټولنه خپله ورسره اصلاح کېږي. بناً د ژوند بريا لپاره دوه ډوله انسانان شتون لري: واقع بين او ناواقع بين

۱ـ واقع بين: هغه انسان ته ويل کېږي چې خپله نيمګړتيا مني او د جبرانولو لپاره يې يوه منطقي لاره ورته څېړي.

۲ـ نا واقع بين: هغه انسان ته ويل کېږي چې خپله نمګړتيا زغملی نه شي او د حل لارو چارو څېړلو لپاره منطقي توان ونه لري.

د پورتنيو خبرو په اړوند ښاغلي ډيويډ شوارتز ويلي دي. (د خپل ځان جوړوونې او سموونې لپاره د يو نقاد او کره کتونکي جرائت او شهامت ولرئ، خپلې نېمګړتياوې او عيبونه لومړی کشف کړئ او بيا يې له منځه يوسئ.) بلا فاصله د ژوند لپاره يو ښه کره کتونکی هغه دی چې واقع بين وي او د نقد زغم ولري او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرکټرونو سمون لپاره يې منفي ليرې او مثبت غوره کړي، لکه د انتوني رابينز خبره؛ که باور ولرې او که يې ونه لرې، ته د خپل ژوند اصلي طراح بلل کېږې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## روڼ اندی ځوان

روڼ فکرونه تل د د اوس او راتلونکي مديران وي. دوی هر کله خپل کارونه په وخت ترسره کوي او هر کار په غور او فکر سره څېړي او وروسته د کار شيره يې راباسي او د پوښتنو په لړ کې له ځان نه پوښتي، چې ايا که زه دا کار وکړم څومره ګټور تماميږي او يا که له بلې زاويې ورته نظر وکړم ښه پای مومي او که نه؟ هر کله د هر کار منفي او مثبت خواوې چاڼوول ددې ښکارندويي کوي چې د سمې او خرابې لارې عواقب مخکې له مخکې په نظر کې نيسو او وروسته د عمل هوډ ورته ورکوو، چې دا عمل د روڼ اندو او سرې سينې خاوندانو کار وي.

د روڼ اندو فکرونو په اړوند ښاغلی ډيويډ شوارتز په څو ځايونو کې داسې تحليل کوي: لوی فکر وکړئ او لوی نتايج لاس ته راوړئ؛ له خپل ذهن څخه د مسايلو د تحليلولو او سنجولو لپاره استفاده وکړئ، نه د اطلاعاتو انبارولو لپاره ؛ تل داسې فکر وکړئ چې زه ددې لپاره يو مهم کار ترسره کوم چې يو مهم او با ارزښته انسان واوسم.

د ښاغلي ډيويډ له تحليل څخه داسې انګېرل کېږي چې يو روڼ اندی ځوان تل بايد اطلاعات خپل ذهن کې داسې انبار نه کړي چې په راتلونکي کې ترې ګټه نه شي اخيستی، بلکې اطلاعات داسې خپل ذهن کې ځای کړي چې په راتلونکي کې د يو کار تحليل او څېړلو لپاره ترې ګټه پورته کړي.

روڼ اندی ځوان د ژوند مديريت ترڅنګ بايد د خپل د مطالعې کچه هم لوړه کړي او تل تيز هوش او هوشمند ځوان واوسي او په هر کار کې دقيق فکر وکړي، د خپل له تجربو څخه ګټه پورته کړي، د ذهن له اطلاعاتو څخه دې مرسته واخلي او تل څېړونکی او د يو کار منفي او مثبت عواقب وڅېړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د فکر شتمني**

شتمن فکر د پراخ لید لومړی عنصر دی، چې په لوی فکرونو باندې لوی کارونه ترسره کېږي. دا چې موږ ژوند ته په کومو سترګو وګورو؟ دا زموږ د فکر شتمني پورې تړاو ښندي، که موږ ژوند ته د هر پوړ په کچه باندې لید ولرو، هغومره زموږ د فکر استازیتوب کوي. لوړ او ټیټ، ژور او کمزوری د فکر او تمرکز پوړی ګڼل کېږي. دا چې موږ څنګه کولی شو په لوړه کچه باندې د فکر شتمني ترلاسه کړو؟ یوازې او یوازې ژور او لوړ لید ته اړتیا وینو. د فکر شتمني په مطالعې سره پانګوونه مومي خو داسې کسان هم شته دي چې د مطالعې کچه یې ټیټه وي خو ښه تحلیل لرونکي فکرونه ورسره مل وي. کېدای شي دا د ډېرې تجربو لامل وي. اما د فکر شتمني او د تمرکز زیاتوونه په مطالعې باندې پراخېږي، څکه چې برایان ټریسي وایي: که تاسو په یو کار کې مهارت او وړتیا لرئ نو په همغه برخه مطالعه او څېړنه وکړئ.

بناً که موږ په یو کار کې مهارت ولرو نو د تمرکز او د هنر زیاتېدو لپاره باید په همغه څانګه کې ډېر ځیرک واوسو. دا خو د یو ځانګړي مسلک خبره شوه، نو اوس موږ غواړو چې د یوه جامع فکر لپاره څنګه کولی شو، یو بریالی شتمن واوسو؟ نو ددې لپاره باید د ژوند هر مسلک او هر کار ته په دقت او ځیرکۍ سره مثبت، ژور او لوړ لید ولرو. همدا شان د فکر شتمني لپاره باید په هره څانګه کې مالومات زیات کړو او د ذهن پانګوونه مو باید ډېره پراخه وي او د مطالعې ډګر ته تل ښه راغلاښت ووایو. نو اوس کوم څیزونه دي چې زموږ د فکر شتمني له منځه وړي؟ ددې پوښتنې په اړوند ښاغلی انتوني رابینز وایي: تر ټولو ستر خطر چې زموږ د ژوند کیفیت له منځه وړي، هغه تخریبوونکي افکار او تخریبوونکي باورونه دي. نو لوړ او مثبت لید د فکر شتمني لپاره ښه اغېز ښندي خو څنګه کولی چې همدغه ستر او تخریبوونکی فکر د خپل له افکارو څخه لېرې کړو؟ په یو دقت سره ښاغلی نیل دونالد والش باورمن دی چې ستاسې هر فکر، نظر او عمل باید ستاسو له غوښتنو سره همغږی وي او که کوم فکر، نظر او عمل مو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتنو سره مخالف ؤ، له ځانه يې لرې کړئ! نو د افکارو زېږنده او د افکارو شتمني لپاره نيم افکار مو په ذهن کې او نيم نور مو په عمل کې رامنځته کړئ. د فکر شتمني او د پراخېدو لارو چارو لپاره د څو ښاغليو نظريې لاندې شماره وار په ګوته کوو، چې په داسې توګه څرګنده شي، چې د افکارو شتمني څنګه پراخه لمن غځوي:

ـ که چېره تنګ نظره خلک د خپلو صميمي ملګرو په توګه غوره کړئ، تاسې هم ورسره ورو ورو په يو تنګ نظره انسان بدلېږئ! «ډيويد شواتز»
ـ لوی فکر وکړئ او لوی نتايج لاسته راوړئ. «ډيويډ شواتز»
ـ د نورو خلکو فکري ستراتېژي او برنامې مه کاروئ، خپله فکري فلسفه جوړه کړه، وبه وينې چې تاسو بې ساری ځايونو ته هدايتوي او کنه؟ «جيم ران»
ـ ستاسې د ذهن هر فکر او هر تصور، عمل او اقدام زېږوي او په تدريج سره په يوه فکري واقعيت بدلېږي... فقر او بډايتوب دواړه ستا له ذهنه سرچينه اخلي، وګورئ چې ستاسو په ذهن کې څه تېرېږي؟ «باب پراکتر»

د فکر بډايينه او د فکر شتمني په اړوند داسې ډېرې نظريې شتون لري، خو اساسي خبره دا ده چې د افکارو شتمني کې تمرکز هم خورا مهمه ونډه لري او جامع فکر او ليد د ذهن پراخېدو لپاره اړين ګڼل کېږي، همدارنګه تر څنګ يې ډېره مطالعه هم رول لري. بناً شتمن فکر ستاسو له ذهن، لوړ فکر، مثبت ليد، مطالعه او د موخو تکل سره پراخېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ته بریالی یې!

عقل، علم، عمل، اخلاص او ادب د یو بریالي انسان سترې نښې دي، چې د دنیا او اخرت هوساینه پرې ترلاسه کېږي. دا چې هغه کسان په خپلو کارونو کې بریالي نه دي، دا ددې معنا نه ورکوي چې هغه کسان نوموړي پنځه فکتورنه نه لري، بلکې کېدای شي پورتني ځانکړنې ولري خو د عمل جامه یې نه گرځوي. له یو کار څخه وروسته بریالیتوب هغه احساس دی چې زموږ هیلې هر کله ژوندۍ ساتي او د راتلونکي په خوبونو کې د تصور په ټال مو زنگوي.

ښاغلی وین ډایر داسې انگېري، ( ډارونکي او شکي افکار، زموږ کارونه له زړه نا زړه توب او تزلزل خواته مخامخ کوي. دا ډول افکار له ذهنه ووینځۍ او بریالیتوب په خپل وجود کې احساس کړئ.) د بریا رسېدو لپاره تکل او اراده اساسي توکي دي چې موږ خپل موخې پورې رسولای شي.

بریالیتوب د موخو لپاره شرط دی خو ځینې ارکان لري چې باید مسلسله تعقیب شي، یو کار لومړی باید پیل کړو، فکر پرې وکړو، وې شنو، پلان ورته جوړ کړو، هڅه ورته وکړو، عملا لاس په کار شو، که ماته مو وخوړه نو یو ځل بیا لاس په کار شو، له کاره باید لاس وانخلو، ستړیا ونه منو نو خامخا د بریا مزه څکلی شو. پورتني عناصر هغه شرطونه دي چې د بریالیتوب خواته موږ بدرگه کوي، احساس راکوي چې ورو ورو خپل هدف ته رسېږو او خپل هیلو ته ډېر نژدې شوي یو. د کاټرین پانډر نظر هم را اخلو چې د بریالیتوب په اړوند څه لیکي؟ (کله چې تاسې خپل ځان بریالی او موفق تصور کړئ؛ مهمه نه ده، چې سل په سلو کې منطقي فکر وکړئ، یوازې لوی فکر وکړئ، همدارنگه په ژوند کې د هر ډول بریالیتوب او کامیابۍ د جذبولو لپاره هېڅکله دا فکر مه کوئ، چې زه خو فقیر او بې وزله یم، د خدای ج مهربانۍ له مخې حساب وکړئ، په پرېمانۍ فکر وکړئ او فرصتونه تعقیب کړئ.) انشاءالله بریا ترلاسه کولی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**انعطاف**

هر انسان باید په خپل ژوند کې انعطاف منونکی وي، ځکه انعطاف او د نورو نیمګړتیاوو څخه تېری لامل ګرځي چې اړیکې ټینګې پاتې شي. انعطاف د لویو او ربښتینو سړیو کار وي. هر څوک باید د صبر او حوصلې خاوند وي، ځکه صبر او حوصله انعطاف رامنځته کوي او انعطاف لامل ګرځي چې د کالونو پښېماني څخه موږ وژغوري.

د یو بل نه منل او د خبرو نه زغم د شیطاني وسواسو کار وي، نو واقعي مسلمان هغه دی چې انعطاف لرونکی او د هرې خبرې پر وړاندې ګذشت او تېری ولري چې هر رهبر باید یاده ځانګړنه په خپل وجود کې مینده کړي.

څوک چې انعطاف لري، نو هغه باندې تل خلک رامات وي او ښه نیکې مشورې ترې اخلي، ولې؟ ځکه چې خلک هاغو کسانو باندې راماتېږي چې نیکي یې پر وجود کې نغښتې وي او د ښو ځانګړنو خاوندان وي نو باید هر څوک په خپل ژوند کې د انعطاف او د نورو وړو نیمګړتیاوو پر وړاندې تېری او ګذشت وکړي او تل ښښونکي واوسي ځکه زموږ خالق ډېر ښښونکی ذات دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## انسان او ژوند

انسانان د خپل اصلي استوګنځي څخه را جلا کېږي او د فاني نړۍ له ازموینې څخه وروسته بېرته د خپل اصلي ستنې ته ورګرځي. کله چې انسان فاني نړۍ ته سترګې پرانېستې له مودې وروسته ځینې پوښتنې را ولاړېږي، چې باید هغو ته مقنع ځواب ورکړل شي، لکه: موږ د څه لپاره پیدا شوي یاستو؟ څه باید وکړو؟ یانې موخه مو څه ده او بېرته چېره ستنېږو؟ که ددې پوښتنو په ځواب کې بریالي شولو بیا د ژوند په ازموینې کې نورې لارښوونې هم په سترګو کېږي چې باید ورته د حل لاره وپلټل شي. د فاني نړۍ په ژوند کې ازرښتونه، حق و حقوق او موخه د سختو کړاونو په ترخ کې ترسره کېږي، چې ځینې په پام او ځینې په پټو سترګو ترې لاروی شي. تلونکې دنیا د ابدي دنیا یوه لویه ازموینه ده چې دا ازموینه د مستقیمې او غیرې مسقیمې لارو باندې وېشل کېږي. د مسقیمې لارې پلویان ابدي دنیا سمبالوي او د غیرې مستقیمې لارویان یوازې شتمني د بڼو په څوکو دروي او د ابدي دنیا سودا نه کوي او په سترګو یې توره پرده راوځړېږي. انسان د مسقیمې لارې په ودانولو کې باید منل شوي اصول پلي کړي، د اورېدلو توان پیدا کړي او د اورېدلو تر څنګ ځان وپوهوي، همدارنګه د اعتقاد او عمل پوړیو ته دې منګولې ورخښې کړي. بلافاصله فاني نړۍ د ابدي دنیا لپاره یوه توښه ده لکه د عبدالرحمان بابا دغه بیت:

ښه ده ښه ده دا دنیا
چې توښه ده دې عقبا

**ـ شفقت او مهرباني:**

زړه سواندی او مهرباني په ژوند کې د هر انسان لپاره ډېر اړین دي چې باید ورته پام وکړي. ژوندي موجودات د ژوند کولو حق لري او یوازې مړینه یې د الله تعالی په امر باندې ترسره کېږي. ما یو وخت د نصیر احمد احمدي د جوجو په ناول کې د ژوند ډېر درسونه زده کړل چې له هغو نه یو هم شفقت دی، یانې د مهربانۍ په ترسره کولو کې له هر ژوندي موجود سره باید ښه چلند وشي. لیکلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ؤ ( یو حیوان غړېږي، زما په فکر انسان تر هر څه مضر او خطرناک دی، یوازې خپل ځان ته اهمیت ورکوي، دا نه وایي چې د ځمکې نور موجودات هم د ژوند کولو حق لري او که نه؟) ځینې بیا دا وایي، تر هغو چې ضرر ونه رسوې ضرر به ونه وینې، لکه د پښتو دا مشهور متل (چې شمال نه شي ونه نه ښورېږي.) خو نه! شفقت او مهرباني د هر څیز پر وړاندې د سنت لاره او طریقه بلل کېږي، چې باید پلې شي.

ـ اخلاص او باور:

د ژوند په پړاونو کې یو هم اخلاص دی چې هر انسان ورته اړتیا لري. اخلاص په هر کار کې ډېر اړین دی چې ددې کړنې په ترسره کولو سره باور لاسته راځي. د ژوند کوم ماموریت چې د هر څه لپاره موږ ته راسپارل شوی وي په پای کې همغومره مفاد(ګټه) ترې غنیمت کېږي او ددې داعوه کولی نه شو چې باید ډېر راغنیمت شي. د احمدي صیب په ناول کې بل درس د اخلاص او باور دی.(معلمان ټول په یوه خوله ول، پنځه زره افغانۍ یې کمې ګڼلې، ویل یې چې په دې تنخوا ستوني نه شو ورته څیرولای، خو د سر معلم دلیل دا ؤ چې دوی په زوره نه دي راغلي، تنخوا مالومه ده، که یوه وي، که سل، دوی منلې، نو باید چې د زړه له اخلاصه درس ورکړي.) نو د ژوند په معاشرت کې که اخلاص وي نو اړینه نه ده چې په هر کار قسم او قران یاد شي. اخلاص سره جوخت باور هم رامنځته کېږي.

ـ ارزښت:

تر هغو چې ارزښت ورنه کړو ارزښت به ونه وینو؛ د ارزښت ساتلو لپاره باید منل شوي اصول را وسپړو چې پر مختللې ټولنه هم دا کړنه له مونږه غواړي. فرهنګ او ټولنه ارزښت غواړي، همدارنګه د ټولنې ښځینه قشر ارزښت سره مینه لري. ښځینه قشر ته ارزښت ددې مانا ورکوي چې موږ راتلونکی نسل روزو. د غرب فرهنګ ښځینه قشر اکثره د سوداګریزو او د جنسي په ګټو استعمالوي او د کلي وګړي ښځینه یوازې د کور خادمه او د ماشومانو ماشین بولي خو د اسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقدس دین بیا نو ښځینه کهول ته ارزښتونه او اصول وربښژني، چې ښځینه کوم رول په ژوند کې لوبوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په یاد ولره!**

په یاد ولره؛ هغه ګړنه ده چې هر څوک باید خپل ځان څخه دا وپوښتي چې په یاد ولره یوه ورځ به خپل ارمانونو ته ورسېږې، په یاد ولره چې یوه ورځ به ستونزو ته ماته ورکړې او د بریا لار به ومومې. کله چې ستر شولو نو باید په یاد ولرو چې شخصیت مو هم باید ستر شي، ولې؟ ځکه چې په شخصیت جوړوونه کې او د ژوند په پړاونو کې ځینې اصول شته دي چې که هېر مو وي باید په یاد یې راولو او هغه ته د ارزښت په سترګه وګورو. مثلا: د خبرو پر مهال نه ډېر ورو او نه ډېر لوړ وغږېږو، بلکې باید په اوسط ډول خبرې وکړو، باید په یاد ولرو چې ژوند له هدف سره ښکلی ښکاري نو باید تکل او هیله مو له لاسه ورنه کړو، په یاد ولره! د نورو درناوی وکړه چې ستا درناوی وشي، په یاد ولره! چې د ژوند په هر پړاو باندې باید فکر وکړو او د طبابت، مدیریت ځانګړتیاوې په خپل وجود کې ومومو او تل د رهبر په ډول واوسو.

د ستونزو حل کول باید موږ ته عادي وي او تل باید خپل ستونزې وخورو. جکسون براون وایي: ( په یاد ولره، درناوی او احترام ټول کسان تر تاثیر لاندې راولي او په یاد ولره، چې په ځینو وختونو کې سکوت تر ټولو ښه ځواب دی.) په ژوند کې ځینې ارزښتونه شته دي چې باید په یاد یې ولرو، ځکه همدا ارزښتونه لامل ګرځي چې هر انسان سر لوړی کړي او هېرېدل یې جنون او خړ مخي خواته بیایي. که په هر موقف کې یاستو نو باید د خپل د موقف احترام وکړو او دا باید په یاد ولرو چې زه اوس پرونی کس نه یم...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بيا ځلې پرواز

په لويه دښته کې د تکل لپاره لوړې او ژورې يانې هوساينه او ستونزې د موخو رسېدو لپاره يو اصل ګڼل کېږي، چې بايد د زغمېدو لپاره يې سره سينه او ټينګ ټټر ورته ولګوو. هر تکل د يوې ټاکلې او ځانګړې موخې لپاره يون مومي، چې د بريالي کېدو لپاره يې ماته، ستونزې، ټکر او د لارې ډبرې خامخا په مخه را درومي. د هر تکل او هدف ته رسېدو لپاره په لوړه او پوره کچه باندې بريا نه ترلاسه کېږي او ماته ورسره ذاتي او په طبيعي ډول مل وي خو بيا دا ددې مانا نه ورکوي چې موږ د يوې موخې بريا لپاره ماته وخوړه، بلکې د بيا ځلې پرواز لپاره د يوې بلې زاويې له خوا ليد کوو او د ليمو له ترشو اوبو څخه خوږې اوبه جوړه ؤ.

د بيا ځلې پرواز لپاره موږ بايد ډېر په دقيق توګه ګام پورته کړو او داسې هنر نه کار واخلو چې د شادو له منګې نه؛ شاد هم را واخلو، خو موچۍ مو ونه چيچي او منګی هم مات نه شي، نو په داسې توګه بيا کولی شو چې د خپل د ماتې موخې لپاره بيا ځلې پرواز وکړو خو د پرواز او يون لپاره بايد دا ځلې د وسپنې هوډ او ارادې له ځان سره ملګري کړو، همدا شان دقت او د فکر پاملرنه مو هم هېره نه شي.  يوه خبره بايد هېڅکله هېره نه کړو چې د هرې بريا سره ماته نغښتې وي خو د هرې ماتې په پای کې بريا شونې بلل کېږي او دا بيا د تکل او موخې د بيا ځلې پرواز په هڅو پورې تړاو ښندي. تقليد د نورو له کړنو څخه په يون او تکل کې ښه نه ګڼل کېږي او تل بايد زه، زه واوسم او ته، ته! خو د نورو له تجربو څخه بايد عبرت واخلو. د بيا ځلې پرواز په پرېکړو کې دقيق، رښتوني، ښه مثبت ليد ولرو، هوډ او اراده مو بايد له وسپنې څخه وي او بايد په دې باندې عقيده ولرو چې هرې تورو شپو پسې رڼا مله وي خو هېڅکله ناهيلي کېږو نه؛ ځکه چې راتلونکی په راتلو دی او همدا سختي او ستونزې مو زړه لکه کاڼي غوندې کلکوي او د بيا ځلې پرواز په ترڅ کې د تېرو ماتو له تجربو څخه ګټه پورته کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تجسس

هر انسان باید څېړونکی وي او د خپل د ژوند موخې باید وڅېړي. دا چې لټ انسان څومره شاته پاتې دی، ایا توپیر یې کېږي؟ بلکل! لټ انسان دې یو ځلي باید خپل شا بګروند ته نظر واچوي او بیا د خپل ځان سره فکر وکړي چې ایا ما په خپل ژوند کې پرمختګ کړی دی او که نه؟ ایا زه جامد یم او که مایع؟ یا که زه خپله نه غواړم چې حرکت وکړم! وروسته له دې د روان او تم توپیر دې وکړي چې د روانېدو په حالت کې څومره مختګ کوم او د تمېدو په حالت کې څومره بدلون کولی شم. کله چې دا پوښتنې له ځان سره ځواب شي نو د پرمختګ لار موندلی شو. بل دا چې لټ انسان دې خپل مخې ته هم نظر وکړي او ځان څخه دې پوښتنه وکړي چې ایا زه د زمان له تحولاتو سره سم روان یم او که نه؟ څومره کسان له ما نه مخ ته تللي او که نه زه مخ ته تللی یم؟ کېدای شي نور له ما نه دومره مخ ته تللي وي چې د رسېدو لپاره یې کالونو کالونو وخت ته اړتیا ولري، نو باید لاس په کار شم.

همدا تجسس او د موخو څېړنه د هر انسان یو برجسته صفت بلل کېږي چې باید هر انسان دا خواص په خپل ځان کې پیدا کړي او تل په تجسس کې واوسي، توپیر نه کوي، که په هره برخه کې وي، بهتره دا ده چې د ژوند د رڼایي په لور تجسس وشي، د علم په لټه کې تجسس وشي، د ژوند د اسانتیاوې په پار تجسس وشي او د موخو تکل لپاره تجسس اړینه ځانګړنه وبلل شي نو خامخا په خپل ژوند کې بریا ترلاسه کولی شو.

د حضرت محمد (ص) حدیث دی چې تاسو په یو کار باندې ژر لاس مه پورې کوئ، بلکې تجسس او څېړنه پرې وکړئ، ښه او بد یې ورته را څرګند کړئ او وروسته له هغه یو عادلانه تصمیم پرې ونیسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بدلون

ژوند لکه د سمندر څپو غونډې لوړې او ژورې لري، کله سمندر په سکون سره وړې څپې اړوي او کله هم په مستۍ سره څپې د سمندر پر څنډو ور واوړي او دا په طبیعي توګه همداسې دوام مومي. د انسان ژوند هم لکه د سمندر څپو غونډې لوړې او ژورې لري او همدارنګه د انسان له پیدایښت نه را پیل د ژوند تر نورو پړاونو پورې انسان له ژوند سره په تحولاتو کې وي خو یو شان پاتې کېدل یې بیا د ژوند مانا نه ورکوي نو انسان بیا مړ جسم او بې روح وجود غونډې بلل کېږي.

الله تعالی خپلو مخلوقاتو یانې انسانانو ته د ژوند جلا تحولات ورکړې دی او هر انسان یې بېل خوی او رنګ کې پیدا کړی او انسانان هم یو بل غونډې نه دي، یانې لکه پنځو ګوتو غونډې یو شان نه بلل کېږي، بلکې توپیر لري. په ژوند کې د انسانانو رنګونه او قدونه داسې دي لکه د ونو په شان؛ چې ځینې ونې خوږې مېوې او ځینې هم تریخې مېوې کوي، یانې ځینې ونې لنډې او ځینې هم اوږدې پیدا کېږي، چې په رنګونو کې یې هم تحولات وي نو هر انسان باید د خپل د ژوند رهبري وکړي او د خپل د ژوند یو بریالی مدیر واوسي، ددې خبرې مطلب دا دی څنګه چې خلق شوي یاستو باید همغسې ژوند وکړو، که د وجود رنګ مو تور دی نو باید د سپینېدو په هڅه کې ونه وسو، ځکه موږ بیا د الله تعالی په پیدایښت کې توپیر راولو او که سپین رنګ ولرو نو بیا د غنم رنګ په لټه کې ونه وسو، ځکه څنګه چې یاستو باید همغسې ژوند وکړو خو هېره دې نه وي چې د انسان د پیدایښت بدلون د مخلوق په لاس کې نه، بکلې د خالق په لاس کې وي.

دا خو د انسان د پیدایښتو تحولات شو خو د ژوند تحولاتو په هکله یادوونه مې ځکه وکړه چې باید هر انسان د ژوند پړاو سره سم تغیر منونکی واوسي او د ماشومیزم له اېډیا څخه ځان وژغوري، ځکه د ژوند هر پړاو بېل اېډیا او خوند لري نو د ژوند له تحولاتو او پړاونو سره موږ باید تغیر منونکي، شخصیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



منونکي او فکر منونکي واوسو او همدارنګه د ژوند له څپو جوخت خوځښت او بدلون وکړو.

خو ښاغلی شکسپیر بیا وایي: (له ژوند څخه د خوند اخیستلو لپاره باید لږ ناپوهه هم واوسو.) بناً زموږ له ډلې څخه هېڅوک هم بې شخصیته نه دی خو د ژوند د تحولاتو لپاره زه، زه یم او ته، ته؛ همدا شان ژوند د انسان له پیدایښت سره سم او د انسان تر مرګه پورې په تحولاتو کې وي او دا بیا یو طبیعي خبره بلل کېږي، چې ژوند ورځ تر بلې په بدلون کې کوي، باید موږ هم ورسره تغیر منونکي واوسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تقدیر

کله چې انسان فاني نړۍ ته سترګې وغړوي نو د انسان له پیدایښت سره جوخت د الله ج په امر د پرښتو په واسطه د نوموړي تقدیر هم ورته وټاکل شي. د تقدیر په اړوند پوښتنې ګیچ کوونکي دي ځکه مثبت او منفي کړنې بیا هم تقدیر پورې تړاو لري، یانې یوې پوښتنې نه، بلکې څو پوښتنو زما فکر ګیچ کړی، که موږ پورتنۍ خبرې باندې سوچ وکړو نو بې له شکه چې د انسان له پیدایښت سره سم نوموړي ته تقدیر لیکل شوی ده، له دې خبرې دا راڅرګندېږي چې زمونږه کړنې تړلې په تقدیر باندې دي، یانې واک مو د تقدیر صاحب سره ده؟ زما ټوله خبره په دوو اندونو باندې راڅرخي، فرض کوو؛ مونږه په یوه مزل کې روان یاستو، چې په مختګ کې لوړې او ژورې لیدل کېږي، که مونږه شا تګ وکړو، کېدای شي تقدیر به مو همداسې غوښتې وي، خو که مونږه لوړې او ژورې طی کړې او مختګ مو وکړ شاید بیا هم خبره تقدیر پورې نغښتې وي، لنډه دا چې په شا تګ او په مختګ باندې کړنې تقدیر پورې انحصارې ښکاري ځکه واک له موږ سره نه ده او خبره ټوله تقدیر پورې تړلې ده، خو همدا تقدیر بیا د مور او پلار په دعا باندې بدلون موندلی شي.

**ـ تقدیر ته مثبت لید لوری:**

ځینې کسان شته دي چې په کور ناست وي او لوړ خیالونه په خوب کېویني، هغوی عقیده لري چې څه به مو په قسمت کې وي، همغه به کېږي. د الله تعالی په اسماوو کې یو نوم رازق دی چې الله ج پرته له انسانانو نور موجودات او مرغانو ته هم رزق ورکوي خو په ځاله کې یې نه ور اچوي، بلکې مرغان د خپل په هڅو سره د خپل ټاکلې روزي ته ور رسوي. بناً که موږ خپل تقدیر ته مثبت لیدلوری ورکړ او لاسونه مو ورته رابډ وهل، یقیناً چې بریالي یاستو.

**ـ غوښتنه او هلې ځلې:**

الله تعالی خپلو بنده ګانو ته ویلي دي چې له ما نه سوال وکړئ، زه به حتمن ستاسو سوالونه قبلوم، کله چې الله ج زمونږه د حق سوالونه پوره کوي نو ولې په هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار کې له الله ج مرسته نه غواړو؟ باید د هر بریا لپاره لاسونه هغه رب ته لپه شي چې زموږ خاموشه او هره کړنه اوري او ویني، نو کله چې غوښتنه مو له الله ج وکړه او الله ج زمونږه غوښتنه ومنله، د غوښتنې ترسره کېدو لپاره باید هلې ځلې وشي، ځکه الله ج ببرته خپلو بنده گانو ته په ډاگه کوي، چې تاسو حرکت وکړئ، زه برکت پرې اچوم. خبره څرگنده شوه چې د ټاکلي تقدیر لپاره باید مثبت لیدلوری او د غوښتنو پوره کېدو لپاره باید هلې ځلې وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نقال اندونه**

هر انسان باید خپل په ژوند کې خپلواک واوسي او د نورو تر اغېز لاندې ژوند ونه کړي. دا د ژوند دستور دی چې لوړ فکرونه باید مطالعه شي خو د نورو کرکټرونو کاپي کول بیا د خپل د طبیعي ژوند موخه او هدف له لاسه ورکول دي. نقال یا هم له نورو څخه نقل کول د خپل ژوند پاینښت مانا ورکوي او ورو ورو زوال خواته درومو نو ځکه ښه به دا وي چې خپل په پښو ودرېږو او خپل د ژوند لاره او تګلاره وټاکو، د تنقید په اړوند محمد صدیق پسرلي داسې الفاظ پېیلې دي.

نورو پسې تګ سړی خړ مخی کړي
ګرد د لارې وګوره د شپون په مخ

پسرلي صیب په پورتني بیت کې دا موږ ته په ډاګه کوي چې د نورو پسې تګ او ناخپلواک کېدل سړی بې هدفه کوي او تل به له نورو پسې تګ کوو او داسې عمل هغه شپون ته به ورته وي چې د رمو پسې تګ کوي او تل یې په مخ باندې مړې خاورې پرتې وي، چې په داسې توګه زموږ د ژوند ځاني هدف له موږ څخه ورکېږي او تل به همداسې د نورو موخې ټاکو.
د فکر لوړوالی او ټیټوالی د مقام درجې پورې نه اړوندېږي. دا چې ځینې کسان فکر کوي چې یوازې پیسه داره کس تل ښې خبرې کوي او د لوړ فکر خاوند به هم همدا وي، ځینې بیا داسې وي چې سترګې یې پیسې پټې کړې وي چې د لوړ او ټیټ توپیر کولی نه شي، غریب او بې پیسو کس د فکر خاوند نه بولي، خو یو بې فکره او د سپکې خولې خاوند چې پیسه داره وي نو بیا هم ژبور او هم فکرمن وبلل شي، خو نه! داسې نه ده، ټیټ فکر یوازې په ټیټو کې نه وي، زیات داسې کسان شته چې لوړ پوړي او شته من وي خو یو ذره د فکر تحلیل هم ورسره مل نه وي. ځکه پسرلی صیب وایي:

ټیټ فکر تنها نه وي په ټیټو کې
ډېرې کبرې لارې خو هم غر لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جوړښت که خوځښت؟

جوړښت د یو کار تنظیم، ترتیب او پلاټ ته ویل کېږي چې د یو کار خاکه هم ورته ویلی شو خو خوځښت بیا د همدې پلاټ هغه کړنه ده چې څنګه او په کوم روش باندې یې پیلولی شو. هر کار او فعالیت په لومړي سر کې جوړښت ته اړتیا ویني چې باید د خپل تر حده پورې پرې کار وشي. جوړښت موږ ته د یو کار خاکه راڅرګندوي، چې څنګه کولی شو لومړی د یو کار ساختمان ترتیب او تنظیم کړو؟ کله چې موږ په دې باندې وتوانېدو، چې د یو کار موخه وټاکو او په لنډه او ډېره موده کې د هغه جوړښت ته د پای ټکی کېږدو نو بیا دلته اړتیا لیدل کېږل چې خوځښت څانګې ته مراجعه وکړو، ځکه د جوړښت څخه وروسته موږ د یو کار د بریالیتوب لپاره خوځښت ته اړ یو، چې خوځښت بیا زموږ د کار فعالیت را څرګندوي او د خپل له ځان سره د بریا کچه په سمه توګه تحلیلولی شو.

د جوړښت او خوځښت سوژه مې ځکه د لیکلي بڼې باندې راوسته او همدارنګه په لومړي سر کې د هغوی په توپیر باندې وغږېدم، ددې لپاره لوستونکي په لومړي ګام کې د جوړښت او خوځښت توپیر وپېژني او وروسته په دې باندې پوه شي، چې په بریالي ژوند کې څنګه کولی شو چې یو فعالیت په جوړښت او خوځښت باندې پیل کړو؟

په کره توګه موده یې راته څرګنده نه ده خو د ورځو نه یوه ورځ وه چې د ټلېفون له لارې یو ملګري سره مې د لیکوالي او د کتاب چاپېدنې په اړه بحث وکړ، له ډېر تحلیل نه وروسته د خبرو نتیجه یې دا وه، چې هره لیکنه باید ژر ونه لیکل شي او هر کتاب باید ژر چاپ نه شي، ځکه نوموړي د خوځښت نه جوړښت باندې ډېر تاکید کاوه او همدارنګه ویل یې، داسې لیکنه او کتاب باید چاپ شي چې د لنډ مهالې لپاره نه، بلکې د ژوند تر پایه پورې ژوندی واوسي. بلکل! دا ثابته او ولاړه خبره ده چې باید په ژوند کې داسې کار ترسره شي چې له ذهنونو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژر بهر ونه وځي خو په کره توگه هر فعالیت او خوځښت د ستایلو وړ دی، ولو چې لنډ مهاله وي که اوږد مهاله...

په هر صورت هره لیکنه باید ژر ولیکل شي چې په داسې توگه خوځښت ته تېزښت ورکوي او د هر جوړښت له پای سره خوځښت اړین کار دی، ځکه همدغه خوځښت ده چې د جوړښت د بریا کچه را څرگندوي او خطا گانو ته د پای ټکی ږدي، یانې داسې نه شي کېدای چې د ژوند زیاته برخه په جوړښت باندې وتړلو، ځکه بیا به د جوړښت وړتیا راسره ډېره وي خو د خوځښت توان به هغومره راسره مل نه وي او تل به په هر کار کې زړه نا زړه یو، نو ددې لپاره د ژوند هر جوړښت سره جوخت خوځښت هم اړین دی نو همدغه د جوړښت خام او لومړي کارونه دي چې مونږ بیا د خوځښت لوړې پوړیو ته رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څنګه کولی شو په یوه څانګه کې کار پوه واوسو؟**

ددې لپاره چې موضوع مو لا ښه روښانه شي او څنګه کولی شو په یوه څانګه کې تکړه متخصص واوسو نو د ادبیاتو په اړوند بحث کوو!

**۱ـ په ادبیاتو وپوهېږه!**

ادبیات هم د نورو علومو په څېر یو علم بلل کېږي چې د هنر په لمن کې پروت ښکاري. هنر په ادبیاتو کې ښکلا رابرسېره کوي چې په لوستلو یې په ذهن کې یو ښکلی انځور پربېږدي، هغه تصویر چې هېرېدونکی نه وي. ازاد هنر په نورو علومو کې نغښتی دی او ښکلی هنر بیا ادبیاتو سره تړاو لري نو ځکه ادبي لیکنې له نورو سره توپیر او په لوستلو کې جذابیت او لېوالتیا لرونکی وي. (ادبیات د ادب جمع د زیرکۍ او هوښیارۍ په ماناوو کارېدلې ده او همدارنګه ادبیات یو ژبنی هنر دی چې واقعتونه په ښکلي او جذباتي رنګ کې وړاندې کوي او د انسان استتیک غوښتنو ته ځواب ورکوي.) ژبنی هنر همغه تحریري ادبیات بلل کېږي چې د خپل په غېږ کې رنګا رنګ هنرونه یې کارولي دي او د انسان استتیک لکه عاطفه، حواس او نورو غوښتنو ته ځواب ورکولی شي.

**۲ـ ادبیات زده کړه!**

ادبیات د یوه انسان کرکټرونه راسپړلي او د چلند په ډګر کې د سمون هیله ترې کوي. بناً یو ښه فلم یو ښه ممثل ته اړتیا لري همدا شان ادبیات هم یو ښه ادیب ته غېږه پرانېستې وي، تر څو د اړوند فکټورونو په ترسره کولو باندې غېږ ورته ټینګه کړي. پورته مو یادوونه وکړه چې ادبیات د ادب جمع بلل کېږي نو دلته په خپل مسلک کې د تخصص په اساس ادب له استتیک (ښکلا پېژندنې) نه سربېره د کرکټر یا چلند نه هم بحث کوي چې د ستر پیغمبر حضرت محمد (ص) د سیرت په لوستلو کې خورا ګټور تمامېږي.

**۳ـ د ادبیاتو اړوند کتابونه مطالعه کړه!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خو ښکاره خبره ده چې د اړوند تخصص په ترڅ کې د يادې څانګې طبعاً کتابونه مطالعه کېږي چې ددې کړنې په ترسره کولو کې مالومات پراخېږي او ذهن مو نوي څېزونه پېژني او راسپړي. نو اړينه برېښي چې د ادبياتو اړوند کتابونه؛ لکه نړۍ ادبيات، پرتلييز ادبيات، ادب پېژندنه او نوره ازاده او مقيده مطالعه بايد وکړل شي چې زمونږه پوهه پرې لوړېږي او د پوړيو په فاصلو کې ګام ورو ورو وړاندې روانېږي. د ادبياتو مطالعه د يوه اديب لپاره لازمه ده چې د خپل څانګې خورا کتابونه ولولي، څکه په راتلونکو کې ورته ګټوره ښکاري.

**۴ـ ادبياتو سره مينه ولره!**

مينه او ذوق د هر مسلک لپاره اړين شرطونه دي، څکه په کوم مسلک کې چې مينه نه وي نو د زړه سوړ والی هم په کې ليدل کېږي. هر هنر ذاتي نه دی چې نسل په نسل پاتې شي، بلکې کسبي بلل کېږي، ياني که يوه کورنۍ له ادب سره ډېره مينه ولري خو که د کورنۍ يو غړی هم علاقه له ادب سره ونه ښايي نو کورنۍ نه شي کولی چې نوموړی کس دې ته اړ کړي تر څو ادبيات ولولي يا هم مينه ورسره پيدا کړي، دا يو ناشونی کار دی، څکه ذوق او مينه نوموړي پورې اړونديږي نو خامخا تاکل هم د هغه په واک کې وي. دا اوس څرګنده شوه چې په کوم برخه کې علاقه وي نو ښه پای مومي، همدارنګه ادبيات او نور مسلک هم سختې مينې ته اړتيا لري، څکه مينه مونږه اړ کوي چې يادې څانګې کې لېوالتيا پيدا کړو.

**۵ـ ادبي بحثونه او مقالې وڅاره!**

د ادبي بحثونو لپاره په غونډو کې ونډه موږ سره مرسته کوي چې نوي مسايل د ادبياتو په برخه کې خپلې حافظې ته وسپارو. کله چې موږ غواړو په يوه څانګه کې کار پوه يا متخصص واوسو نو اړينه ده چې د مطالعې ترڅنګ په ادبي بحثونو او غونډو کې خورا ونډه واخلو، څکه ډېری څېزونه رامخته کېږي چې کېدای شي نوي به مو اورېدلي او لېدلي وي، همدا شان د مقالو څارل په تخصص کې را سره مرسته کوي چې داسې نوي څېزونه ومونډو چې تر اوسه پورې به مو، نه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتاب او نه په کوم علمي بحث یا غونډه کې اوریدلې وي، بناً ځینې معتبرې مقالې باید ولوستل شي چې نوي موضوعات په خپل لمن کې خامخا لري، چې طبعاً ورسره ذهن مو پراخېږي.

**٦ـ لیکوال سره لېوالتیا پیدا کړه!**

لیکوال سره لېوالتیا ددې لامل کېږي چې یو کتاب ډېر په مینه ولولو او د لیکوال له لېوالتیا څخه وروسته لیکنې خوندورې برېښي او د ذهن جذبیت هم په کې نغښتی وي. زه د هر لیکوال لیکنې نه خوښه وم، ځکه هر لیکوال د ښه لیکلو هنر نه لري خو زه هغه لیکوال سره مینه لرم او د لیکنو لوست لېوالتیا یې راسره وي، چې په لیکنو کې یې روانتیا نغښتې وي، نه پېچلتیا؛ ځکه د یوه ښه لیکوال د لیکنو مطالعې نه وروسته موږ ته د لیکلو انګیزه رابښي او اړ کېږو چې موږ هم په راتلونکي کې یو څه ولیکو نو هر لوستونکی باید د خپل د خوښې لیکوال وپېژني.

**٧ـ ورځني لیکل!**

څنګه کولی شو چې کار پوه واوسو؟ ددې موضوع د روښانولو لپاره مو ادبیات بحث وټاکه نو یادوول یې اړین برېښي، ځکه چې ادبیات له لیکوالۍ سره خوندي دي، ادبیات موږ ته د لیکوالۍ هنر راښيي، څنګه کولی شو ښه لیکنه وکړو، کومه زاویې په نظر کې ونیسو، د جملو تړل، روان ګراف او نور... دلته خبره د لیکوالۍ تسلسل وه، چې هره ورځ لیکنه د لیکوالۍ هنر زیاتوي. دا یوه مالومه خبره ده چې هر کار په تمرین او مشق سره لوړېږي او همدارنګه هنر هم ورسره ورو ورو زده کېږي نو ورځني لیکل د ښه لیکوال تعبیر کولی شي.

**٨ـ وړاندوینه او ویناوالي!**

په اوسني عصر یانې په یویشتمه پېړۍ کې ټکنالوژي خورا پرمختګ کړی دی چې موږ له ټولې نړۍ سره وصلولی شي، له دې خبرې مې مطلب دا ؤ چې اوس موږ ډېر په اسانه لاره د خپل نظریات نړۍ ته وړاندې کولی شو. پخوا به مو د خپل نظر تر یوې غونډې پورې محدودېده، خو اوس اړ یو چې د خپل نظرونه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټکنالوژۍ له لارې تر نږۍ ورسوو. د نظر شریکول زموږ ادبي شعور لا زیاتوي او د سبا لپاره په لویو غونډو او مجالسو کې په یوه ټاکلي موضوع بحث کولی شو. یوه بله وړاندوینه دا وه چې زموږ ذهن هغه منګې ته ورته دی چې یو کس په کې دوه ډوله پیسې ور اچوي، لوموړی اوسپنیزې او دویم یې کاغذي دي، طبعاً ښکاره خبره ده چې اوسپینیزې پیسې کم ارزښته دي او د کاغذي پیسو ارزښت لوړ بریښي، یانې باید موږ هم د خپل ذهن ته با ارزښته څیزونه وسپارو، چې د ذهن په ډکېدو او په ګټه اخېستلو کې ارزښتمنه تمام شي.

همدا راز د ویناوالي فن زموږ د پوهې لپاره ډېر مهم ټکی دی، ځکه که مونږه ډېره پوهه ولرو او ویناوالي فن مو زده نه وي نو نه شو کولی چې په ادبي بحثونو کې ونډه یا د خپل نظر شریک کړو نو بناً د پوهې تر څنګ د ښه ویناوالي فن اړین دی چې څنګه کولی شو مقابل لوری د خپل له پوهې څخه اغېزمن او وپوهاوو.

**۹ـ د ادبیاتو پوهنځی ولوله!**

هر لیکوال او هر شاعر پرته د ادبیاتو پوهنځۍ لوست څخه خورا ستونزې په یادې څانګې کې لري. د ادبیاتو پوهنځۍ موږ نه یو ښه ادیب جوړولی شي او د خپل په هر مسلک کې پرته له پوهنځي او تخصص نه؛ که موږ هر څومره مهارت ولرو خو بیا هم بې مهارته یادېږو یا د خپل ستونزې په یادې څانګې کې خامخا لرو، ځکه په ادبیاتو کې هغه څه لوستل کېږي چې د یوه ادیب شعور اوج سلنې ته رسولای شي، یا په ادبیاتو کې د هغه اړوند موضوعات یا مالومات تدریس کېږي چې په لوستلو یې هر څوک یو ښه ادیب جوړېدای شي او هر اړخیز تخصص د خپل له څانګې لاسته راوړلی شي، نو د ادبیاتو پوهنځۍ لوستل یا د هر مسلک د مهارت لوړېدو لپاره د هرې پوهنځۍ لوستل د تخصص په برخه کې تکړه کارپوه روزي.

ـ د بحث اغېزمنتیا لپاره مو ځکه یو مسلک وټاکه او د هغه په اړوند مو شماره وار بحث وکړ چې موضوع لا ښه څرګنده شي، چې په یوه مسلک کې ښه کار پوه باید کومې مرحلې طی کړي نو تاسو که په هر مسلک کې یاستئ نو یادې مرحلې په خپل مسلک کې خامخا عملي کولی شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خیال او تصور رامنځته کړئ!

**ـ خیال**

خیال د هر انسان لپاره یوه بله غیر حقیقي او نه لمس کېدونکې نړۍ ده چې هر انسان ددې نړۍ جوړول غواړي، خو ګواکې ناشونې رابرېښي. خیال ناخود اګاه د هغو هیلو وزرونه دي چې تر لوړو غرونو پورې پرې الوزي او خیال پلو وهي، خو وروسته وزرونه یې سوځي او د خیال پردازۍ مانۍ یې ړنګه شي. ګل پاچا الفت په خپل نثري کلیات کې لیکلي، (خیال هغه پټه قوه ده چې له ښکار کولو وړاندې نه وي، خو یو دم ځان را ښرګندوي، په خیال کې مانۍ جوړول یا خیال پلو وهل پخوا نه ؤ، خو یو دم یې په ذهن کې یوه مانۍ جوړه کړې او یا خیال پلو ووهي.) نو خیال د ذهني تخلیق هغه پېښه ده چې واقعیت نه لري او تل تخیيلي ځیزونه راپېژني، یانې نوي څېرې او انځورونه را ترسموي چې په فکر کولو کې راسره مرسته کوي نو ځکه الفت صیب وایي: ( د انسان د فکر او عقل مانۍ په خیال ولاړه ده او د ملتونو په حیات کې ډېره ستره او مهمه برخه لري.) نابېره واقعه او ښکلی حس چې د انسان په ذهن کې ګرد راګرځي خو چې حقیقت ونه لري خیال بلل کېږي.

خیال او خیال پردازي د هر انسان راتلونکې لپاره ګټوره تمامېږي، یانې خیال پردازي هغه انځورونه راښیي چې هڅوونکي دي، چې (ای کاش زه داسې وای!) هر انسان باید د خپل ځان ته د خیال پردازۍ حق ورکړي، تر هغو چې د خپل د هیلو خوبونه ویني، ځینې د تعلیم خیال پردازي کوي او ځینې هم د شتمنۍ؛ نو خیال د اسمان له وربځو جګه پوړۍ ده چې لاس ورته نه رسېږي خو ددې تمه لرو چې یوه ورځ د اسمان له وربځو لوړ والوزو.

**ـ تصور**

کالریج وایي: (چې تصور دوه درجې لري، یو یې ابتدایي او دویمه یې ثانوي. انسان چې کوم حواس او تاثیرات اخېستي دي نو دا په ابتدایي درجه کې په ذهن کې راټول شوي وي او د مړو په څېر پراته وي خو په ثانوي تصور کې له حواسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او تاثیراتو نه چې په مغزو کې پخوا پراته دي له هغو نه یو نوی شي په لاس راځي.) یانې تصور یو خوځنده انځور دی، چې په لیدو یې مړه څیزونه را ژوندي کوي. لکه څرنگه چې پورته یادوونه وشوه تصور په دوه څانگو وېشنه مومي، یو یې ابتدایي او بل یې ثانوي دی، چې ابتدایي د نوي څیز په لید سره ذهن ته ور غورځي او ثانوي د مخکیني له انځوره مرسته اخلي چې مړه څېره رابرسېره کړي نو د تصور انځور د فطرت په لوړه راځلېږي چې ور رسېدل یې مزل او هوډ ته اړتیا لري.

تصور د حقیقي نړۍ فکرونه راپاروي او ذهن ته د لیدلوري تصویر منعکسه وي. تصور لرونکي کسان تل د خپل موخې ښاري او هیلو ته د حقیقت جامه ور اغوندي، نو اړینه ده هر وگړی د خپلې موخې لپاره د یوه تصوراتو بڼ خړوبه کړي تر څو چې د خپلو هیلو مانۍ ته پرې ورسېږي. په پای کې د خیال نړۍ او خیال پردازي وزرونو سره سره تصور د تصویر جوړولو مهم رول لوبوي، که هر بریالی انسان له خیالي نړۍ سره د تصوراتو گلان وگرل، زما په گومان د اسمان ورېځو ته رسېدل یې ناشونی نه ده.

**ـ خلاقیت**

خلاقیت یو ابتکار ته اړتیا لري. یوه پوښتنه تل به له ماسره ملگرې وه، څنگه کولی شو خلاق واوسو؟ نو اړینه ده نوي کارونه ترسره کړو، چې نوي څیزونه رامنځته شي. مثلا: په لیکوالۍ کې هغه وخت کولی شو یوه لیکنه مو خلاقیت ته وسپارو چې زمونږه معنوي پانگه ډېره درنه وي، یانې نوي مالوماتونه ترلاسه کړو او نوي کتابونه مطالعه کړو چې نوي موضوعات په خلاقیت کې راسره مرسته کولی شي، نو خلاقیت نوي څېزونو ته اړتیا لري او تل د نوي تصویرونه په لټه کې وي. که یو څوک ودان پوه وي نو باید له ټولو ودان پوهانو نه په توپیر سره باید داسې د کور ډیزاین طرحه کړي چې لا تر اوسه طرحه شوی نه وي او نوې طرحه وبلل شي نو بیا خلاقیت تر لاسه کولی شي یا هم یو فنکار باید داسې یو څیز رامنځته کړي چې د ټولو لپاره جالب او نوی څیز وي چې په لیدو سره یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا ټول ووايي، چې واقعاً جوړوونکی يې ډېر خلاق سړی دی. ښاغلی الیور ساکس د خلاقیت په اړه وايي: (هوښ، تخییل، استعداد او خلاقیت که د پوهې او مهارت بنسټ ونه لري نو کوم ځای ته نه شي رسېدلای.) بناً په خلاقیت کې او څنګه کولی شو خلاق واوسو؟ د هوښ، تخییل، استعداد ترڅنګ پوهه راسره مرسته کوي چې یو ښه خلاق کس واوسېږو. په پای کې دا بیت:

له خیالونو نه مانۍ تصور جوړ کړم
خلاقیت مې هم په دا دی ور رسېږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خیر مو په یووالي کې دی!

په هر کار کې یووالی برکت راولي او یووالی د واحد فکرونو استازیتوب کوي. یووالی او واحد فکرونه په مشورت او مصلحت کې د یو کار د پرمختګ لامل کېږي او همدارنګه همدا درې ځیزونه د بریا لارې چارې موږ ته ښودلی شي.
خوشحال خان ختک او خان عبدالغفار خان د پښتنو یووالي لپاره ډېر کارونه وکړل او د خپل دې سیمې او هېواد وګړي یې تر یو ځایه پورې راغونډ کړل، ځکه چې خوشحال خان او خان عبدالغفار خان په دې باندې پوهېدل چې په یووالي کې برکت وي او برکت د پرمختګ لامل کېږي او همدا راز واحد فکرونه کولی شي چې ډېرې مشورې وکړي او د بریا لپاره ډېرې لارې چارې وکېندي.
مهاتما ګاندي د هند ولسونو یووالي لپاره ډېرې هڅې وکړې او وغوښتل یې ترڅو د خپل هېواد د خپلواکۍ لپاره مزل وکړي او د هند وګړي یووالي ته راوبولي، ځکه چې ګاندي پوهېده منفرد فکرونه په یوازې نه شي کولی خپل هدف او موخې ته ژر ورسېږي نو ګاندي د هند زیاترو سیمو ته مزل وکړ او د هند وګړي یې یووالي ته راوبلل او د خپل منفرد فکرونه یې واحد کړل، چې په داسې توګه په یو څه موده کې د خپل هېواد خپلواکي یې ترلاسه کړه.
همدا راز الله تعالی په سپېڅلي اسلام دین کې په یووالي او مشورت باندې په قران کریم کې ایاتونه ذکر کړي او یادوونه یې کړې چې په یووالي او مشورت کې خیر او برکت نغښتی دی، نو له یو بل سره مشوره وکړئ تر څو واحد فکرونه رامنځته شي، چې په داسې توګه د پرمختګ خیالونه په رښتیا باند بدلېږي او د راتلونکي لپاره نوي طرحې او د ستونزو لارې چارې هم سمبالولی شو.
دا چې د اسلام دین تر دې ځایه پرمختګ وکړ او د نړۍ اکثره کافران مسلمانان شول او د اسلام دښمنانو ته یې ماته ورکړه، یوازینی لامل یې مشورت، یووالی او د ټاکلي موخې واحد فکرونه ول، چې بلاخره د اسلام دین بریا وګټله او خپل هدف ته ورسېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يووالي خير لپاره مشورت ډېر مهم تکی ګڼل کېږي، ځکه چې مشورت د يوې لارې او موخې لپاره بېلابېل زاويې موږ ته راڅېړي او د ښه پرمختګ لارې چارې ټاکي، تر څو له ماتې سره مخ نه شو او د واحد فکرونو يوشانوالی رامنځته کړو. يوه مشهوره مقوله هم شتون لري چې وايي: (بريا مو په يووالي کې ده.) او ددې په اړوند خوشحال خان خټک د مصلحت لپاره داسې بيت را څرګندوي:

نوراني کا هغه ځای چې سره کښېني
ديرينه څلور هوښيار په مشورت

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ذهن ورزش

د ذهن تقویت د هر انسان لپاره اړین بریښي، ځکه که ذهن مو پیاوړی وي نو خامخا د یوې مسئلې حل لپاره ژر فکر کولی شو، د تحلیل لټون به مو ژر کار کوي او په هر ځای کې د زیرک او هوښیار په نامه به یادېږو. د ذهن ورزش لامل ګرځي چې د دماغ حافظه مو ریفرش او بیا تازه شي، د ټولو مسایلو ځایولو کې به د سر درد سره نه مخامخ کېږو، هر خبره به ژر یادوو او د یادښت حافظه به مو پیاوړې وي.

نو اوس څه کارونه باید وکړو چې د ذهن ورزش رامنځته شي؟ هر سهار اړینه ده چې باید د قران کریم قرائت وکړو، احتیاطاً د ذهني فشار د رامنځته کېدو او یا هم د کم فکرۍ له امله هر سهار اووه بادامه باید وخوړل شي، د مطالعې مهالوېش باید ولرو، هر سهار باید خپل د خوښې موضوع مطالعه کړو چې په داسې توګه هم د مالوماتو زېرمه مو پیاوړې کېږي او هم د ذهن ورزش رامنځته کېږي خو چې ذهني ارامښت ولرو؛ سهار باید لږ طبیعت ته هم سر ور ښکاره کړو، تازه هوا تنفس کړو، اوږدې اوږدې ساه ګانې واخلو او له ښکلو ګلانو سره باید اړیکه ولرو، ځکه ویل کېږي چې له ګلانو سره اړیکه انسان ځوان ساتي.

همدارنګه د سالمه خواړو خوړل هم لامل ګرځي چې د ذهن په تقویت کې راسره مرسته وکړي. هر ورځ بدني ورزش او تمرین ددې ښکارندویي کوي چې صحت او روغتیا مو سالمه او برابره وي، کله چې روغتیا مو سمه وه نو خامخا ذهن مو هم پرې پیاوړی کېږي. د مسواک کارول په شرعي لحاظ سربېره، د طبابت له لحاظه د مسواک کارول هم غاښونه پاکوي او هم د ذهن پیاوړتیا سبب ګرځي. همداشان باید خپل ژوند کې له منفي افکارو څخه تل ځان او ذهن مو وژغورو، ځکه منفي افکار لامل کېږي چې د ذهن جنازه مو پورته کړو او ذهن مو مرګ سره مخامخ شي نو اړینه ده چې مثبت فکر وکړو او هر کار ته له مثبتې زاویې نظر وشي. په پای کې د همدومره کارونو ترڅنګ د انسان اړتیا بر بنا خوب هم اړین بریښي، ځکه پر ذهن باندې ډېر کار کول، د ذهن ستړیا سره مخامخ کېږو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو لازمه ګڼل کېږي چې د ذهن ارامښت لپاره خوب هم باید وشي ځکه خوب ذهني ارامښت رامنځته کوي او د ذهن ورزش هم بلل کېږي.
پورته یاد شوي څېزونه هغه برخې دي که چېرې خپل په ژوند کې سم مدیریت شي نو باوري یم چې د ذهن ورزش په مرسته بشپړ پیاوړتیا او لویه حافظه ترلاسه کولی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په یوه لاره دوه ځلي مه ځه!

انسان په ژوند کې ډېرې خطاء ګانې کوي خو د حل لارو لپاره یې په بل لوري باندې ازمایښت هم ترسره کولی شي، تر څو د بریا چانس ومومي. انسانان له خطاء ګانو ډک مخلوقات بلل کېږي، ځکه انسانان کامل نه دي او په یو کار کې حتمن یو ځلي خطاء ترسره کوي، خو په دویم وار باندې د بریا لار مومي. دا چې موږ په یوه لار باندې دوه ځلي مزل کوو او په هر مزل کې ماته خورو نو باید ځان هم قانع کړو، چې دا لاره ډېره ژوره ده او مزل کول په دې لار باندې نور ناشونی دی، ځکه په هر ځلي تکل باندې ماته خورو نو باید خپل لوری بدل کړو. هغه یوه مشهور معقوله ده، یو وار اشتباه خطاء ګڼل کېږي، مګر دوه ځلي ناپوهي ده. په یوه لار باندې دوه ځلي تلل د وخت ضایعه هم ده، ځکه چې که موږ په همغه لار باندې هر ځلي ځو او موږ ماتې سره مخامخېږو نو د ضایعه شوي وخت په خاطر پښېماني لا نور هم د وخت ضایعه بلل کېږي او باید ژر خپل لید لوري ته بدلون ورکړو. وین ډایر وایي: (که موږ چانس ونه ازمایو نو چانس هم نه لرو!) فرض کوو؛ د یوې موخې تکل لپاره په یوه لاره باندې مزل کوو او تر زیاته پیمانه لاره مو هم طی کړې ده، په نیمې لارې کې له ژور خنډ سره مخامخېږو، نو باید داسې فکر ونه کړو چې موږ ماته وخوړه او باید بېرته راوګرځو، نه! د راګرځېدو منفي فکر باید له دماغه وباسو او باید له فکر څخه مو کار واخلو، که هر ځلي په همدې لارې راشو نو خامخا له ماتې سره مخامخېږو او دا مو باید په فکر کې ځای کړو، چې که یو وار له خنډ سره مخامخ شولو، د بل ځلي لپاره باید ترې تجربه لاسته راشي، خپل لوري ته بدلون ورکړو او په یوه لاره باندې دوه ځلي لاړ نه شو. مشهور متل دی او همدې متل په څېر، ازمایښت شوي لارې باندې یو ځلي لاړ شو او د بیا ځلي لپاره یې تجربه وګڼو. (مار چیچلی یو وار له سوري څخه چیچل کېږي.) همدا راز، بېلابېلو لارو باندې هر ځلي تلل که موږ ماتې سره مخامخوي نو باید ناهیلي نه شو، ځکه حتمن د حل یوه لاره شته او ښاغلی برایان ټریسي د همدې خبرې په اړوند داسې وایي: (تاریخ راښيي، انسان خپل ژوند هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت په ستونزو او مشکلاتو کې پیل کړی دی؛ خو بیا هم د انسان لپاره یوه پرانیستې لاره وي او د امید څرک لیدل کېږي؛ خو دا لاره د هغو خلکو لپاره وي، چې هغوی د لارې له بندو دروازو سره سرونه نه وهي، بلکې له نورو خواو د ځان لپاره یوه چوله پیدا کوي... که پېښې هر څومره درنې او غټې وي، خو د هغو تلافي امکان د انسان لپاره پیدا کېدلی شي. په دې نړۍ کې هېڅ داسې شی نه شته، چې انسان دې دومره له پښو وغورځوي، چې هغه د بیا لپاره د ژوند کولو وړتیا ونه لري او ودې نه شي کړای، چې خپل ژوند د دویم ځل لپاره په نوې بنه پیل کړي.) نو د هدف په هره لاره کې ماته شتون لري خو د ماتې تکرار د هدف تکل لپاره زړه سوړوالی رامنځته کوي نو باید که یوه لاره د تګ لپاره شونې نه وي نو باید بیا ځلي پرې رانه شو او په کار ده چې خپل لوری بدل کړو او په بله لاره لاړ شو.

## تفکیک:

ښه باید ښه وګڼو او بد باید بد؛ موږ باید د ښو او بدو تر منځ د منطق تفکیک ولرو. خطاء یوه اشتباه ده او اشتباه د راتلونکي لپاره تجربه ګرځي. تفکیک د هر انسان لپاره خورا مهم دی چې باید د تفکیک هنر لرونکی وي او تل د بریا یوه لاره ونه ازمایي، یانې د متفاوت لید له لوري ببلابېلې لارې وڅېړلي او پرې مزل وکړي، ځکه خامخا یوه لاره د بریا خواته غځېدلې وي او موږ د موخو خواته بدرګه کوي. نو تفکیک باید د ژوند یوه برخه وګرځوو او د همدې تفکیک په وسیله باید فکر وکړو او د خپل له منطق څخه ګټه پورته کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## رواني اندېښنه

د ماشومتوب دوران د انسان پر ټول ژوند اغېز درلودلی شي، څېړونکي او طبيبان وايي: کله چې ماشوم د مور په نس کې وي، دده چاپېريال پر ده اغېزه کوي، په دغه موده کې رامنځته شوې پېښې د ژوندانه تر پایه اغېزناکې وي او مور ته توصیه کېږي چې کله یې ماشوم په نس کې وي نو ځان دې خوښ وساتي، له جنجالونو، تاوتریخوالي، اوچتو او غږ جوړونکو او نور داسې کړنو او چاپېریالیزو پېښو نه دې ځان لېرې وساتي چې په ماشوم باندې بده اغېزه لري. جګړه ییزه ستراتېژي او د چاپېریالیزم تاوتریخوالی د ماشوم په روان باندې منفي اغېزه کوي، چې دا منفي لړۍ بیا د ژوند تر پایه پورې د خپل له ځان سره ښه لید لوری نه لري.

کله چې ماشوم په یوه جګړه ییزه ستراتېژیک حالت کې سترګې نړۍ ته پرانېزي نو خامخا دا حالت د ماشوم په ذهن کې ظبط کېږي چې وروسته د جګړه ییزو وسلو په غږ باندې د پوزېشن (حالت) روان ګراف په لوړېدو ځي او په پای کې رواني تکلیفونه لوړېږي.

(څېړونو ښودلې چې ۹۹ په سلو کې هغه ماشومان چې په کورنۍ کې یې تاوتریخوالی وي په خپله ډېر غوسه ناکه او له تاوتریخوالي ډک وي.) ددې خبرې مطلب دا دی چې جګړه ییز ستراتېژي غړونه او د باروتو غبار په انسانانو او خصوصاً په ماشومانو کې یو جګړه ییزم فکر په دماغ کې ور ځایوي، چې دا پاینټ په ذهن کې قهر، نا انډولتیا، بې اتفاقي او نور ناسم عرفونه په یوې ټولنې کې را پنځوي او په تنکي ځوانانو کې نتیجه به یې دا وي چې په لوبو او نورو خوشحالیانو کې د جګړه ییز ستراتېژیک وسلو او غړونو سره زړه ښه کوي او حتی یو ماشوم به د اکټېنګ په طور په مقابل لوري د لاس په وسیله ډزې کوي، چې له دې څخه دا انګېرل کېږي چې جګړه ییزه مبارزه په رواني اندېښنو باندې را اوړي او خپل غبږ کې منفي ټکي رانغاړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه که په یو هېواد کې جګړه ییز ستراتېژیک تاوتریخوالی حاکم وي نو په هغه هېواد کې د یووالي مزه نه لیدل کېږي او تل به مینه په نفرت باندې اوړي او د ځایي اداري جوړوونه به لړه ستونزمنه رابرېښي؛ نو بناً باید د منطق له لوري، علمي پنځوونې او ښوونیز زده کړو ته باید وده ورکړو تر څو ترلې دروازه په ټاکلي هنر سره خلاصه کړو او د یوې اداري کړکیچو لپاره حل لارې پرانېزو.

هره کورنۍ یو رهبر لري او هر هېواد یو ښه رهبر ته سترګې نېولي وي، فرض کوو؛ د یوې کورنۍ په انډولتیا کې تاوتریخوالی لوړېږي چې نتیجه یې د مینې محبت ګراف راټېټوي او د ماشومانو په رواني اندېښنو باندې منفي اغېزه ښندي، همدارنګه د یوه هېواد جګړه ییزه ستراتېژي په رواني حالت کې ښه نه انګېرل کېږي او نتیجه ګیري به یې جنون، ډار، خوب کې خبرې، بد خویي او نورې ناخوالې د خپل لمن کې درلودلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ولې زما وخت ضایعه شو؟

ولې زما وخت ضایعه شو؟ هغه پوښتنه ده چې موږ د وخت ارزښت ته متوجې کوي او د وخت ځانګړنې په ترتیب ډول را څرګندوي. همدارنګه د تېر وخت پښېمانې او د راتلونکې طلايي فرصت څخه موږ خبروي. د وخت ارزښت په تړاو په قران او په احادیثو کې ډېر ټینګار ورته شوی دی چې غافل انسانان باید پرې عمل وکړي.

الله تعالی د زیاترو سورتونو په پیل کې په بېلابېلو وختونو قسم یاد کړی، ددې لپاره چې د وخت ارزښت څرګند کړي او د هغه لوی والي او ګټورتیا ته د خپل د بنده ګانو پام ور واړوي. لکه په لاندې سورتونو کې په وخت باندې الله تعالی قسم یاد کړی دی، لکه: الیل، الفجر، الضحی، العصر؛ هغه وختونه دي چې د ورځې، شپې، سهار او غرمې د وخت یادوونه په کې شوې ده. د پیغمبر ص په حدیثونو کې هم د وخت ارزښت ستاینه شوې ده، له معاذ ابن جبل نه روایت دی چې رسو الله صلی الله و علیه وسلم وفرمایل: ( د الله بنده به د قیامت په ورځ تر هغو ولاړ وي. تر څو پورې چې د څلورو شیانو په هلکه ونه پوښتل شي: د هغه د ژوند او دا چې څنګه یې تېر کړ؛ د هغه د ځوانۍ چې څه ګټه یې ترې پورته کړه؛ د هغه د شتمنۍ چې له کومو لارو یې وګټله او څنګه یې ولګوله؛ او د هغه د علم په اړوند چې څه ګټه یې ترې واخېسته.)

د وخت ځانګړنې دا دي چې وخت ډېر ژر تېرېږي، تېر شوی وخت نه بېرته راګرځي او نه بدیل لري، وخت د انسان تر ټولو ګرانبیه شتمني ده. ددې ترڅنګ د وخت پر وړاندې د مسلمانانو دنده دا ده چې له وخت څخه باید د ګټې اخیستنې لېوالتیا ولري، په اوزګار وخت کې سم کارونه ترسره کړي، ښو کارونو ته بېړه ولري، د وخت تېرېدا ته پاملرنه وکړي، د وخت سالمه مدیریت ایجاد کړي، هر کار په خپل وخت ترسره کړي، د غوره وختونو په لټون کې واوسي، د سالمه ورځني ژوند مهالوېش ترتیب کړي، د پرون، نن او سبا تر منځ توپیر وکړي، له

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتلونکي سره له حده زیاته مینه ولري او د راتلونکي په هکله منفي لیدلوری له منځه یوسي، بلکې مثبت، ښه لیدلوری او هیلو ته وده ورکړي.
ولې زما وخت ضایعه شو؟ کله چې په ځینو وختونو کې زما وخت ناحقه ضایعه کېږي، بیا نو له ځانه پوښتم چې ولې زما وخت ضایعه شو، کاشکې ددې وخت پر ځای مې یو بل ګټور کار ترسره کړې وای. دا پوښتنه هر کله ما دې ته متوجې کوي چې وخت ته په درنه سترګه وګورم، د خپل وخت په ارزښت باندې پوه شم او نور خپل وخت بې ځایه ضایعه نه کړم. په تېر وخت باندې مو باید ډېر فوکس (تمرکز) نه وي، نن او سبا زموږ راتلونکی دی، د تېر شوي وخت په تړاو رحمان بابا وایي:

تېر ساعت په مثال مړی د لحد دی
مړ چا نه دی ژوندی کړی په ژړا

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نژدې څارنه

په اعتماد نفس کتاب کې راغلي دي (مسوولیت ومنئ؛ چې خلک درته مسوولیتونه در وسپاري، ښاد او روغ پاتې شئ. د خپلو کارونو او ژوند لپاره د بدوالي او ښه والي په ګډون مسوولیت ومنئ، چې د مشرتابه مقام ته ورسېږئ او له هغو کسانو څخه واوسئ چې نور خلک درباندې ډاډه شي او دا به ستاسو بدله درکړي.) کله چې خپله دنده او مسوولیت مو په ژوره توګه وپېژنده او د رهبر یا مدیر ځانګړنې مو په ځان کې پیدا کړې نو ددې ترځنګ نژدې څارنه هغه پاینټ دی چې یو رهبر یا مدیر دا ځانګړنه په خپل ځان کې باید پیدا کړي، ځکه نژدې څارنه لامل ګرځي چې د یو کار ښه والی او بدوالی په سمه توګه وڅارو او د یو حل لاره ورته ومومو. مثلا، زه په یو دفتر کې د مدیر په توګه وګمارل شوم او زما مسوولیتونه هم لوړېږي او باید خپل مسوولیتونه وپېژنم چې یو مدیر، د مدیر په توګه څومره ژمن او مسوولیت لري چې ټول دفتر نه نژدې څارنه وکړي. یا فرض کوو؛ زه د یو کور رهبر یم. د مسوولیتونو ترځنګ نژدې څارنه هغه ځانګړنه ده چې ما ته ځواک راکوي، چې د کورنۍ هر غړی په جلا ډول وڅارم او د هغوی ستونزو او غوښتنو ته ورسېږم. نژدې څارنه د یو اداري مدیریت لپاره اړینه برېښي خو فرق نه کوي چې هغه دفتر یا کور او یا که د چا شخصي ژوند وي؛ اړینه دا ده چې په شخصي ژوند کې هم نژدې څارنه زده کړو او د خپل کارونه ته ډېر په پام سره او د خپلو تر سترګو لاندې یې تېر کړو، چې په داسې توګه زموږ کار پاک او سم راځي. که یوه مستري یا نجار یا هم بل کسبه کار که زموږ کوم څیز جوړوي، نو وروسته له جوړولو نه خامخا د خپل څیز یو ځل د سترګو لاندې تېروو او ددغې پوښتنې ځواب را پیدا کوو، چې ایا زما څیز یې سم جوړ کړی دی او کنه؟ همدا نژدې څارنه ده چې د یو چا د کار کره توب او د یو څیز له جوړېدو څخه باوري کېږو. نو په هر ډګر کې نژدې څارنه باید زده کړو، ځکه همدا ټکی لام ګرځي چې د یو کار دقیقتیا او کره توب څرګند شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له مخپاڼې نه څنګه ګټه پورته کړو؟

مخپاڼه (فیسبوک) یوه ټولنیزه شبکه ده چې زیاتره کسان د اګاهي، د مالوماتو زېرمه او د مالوماتو خپرولو په اړوند ترې ګټه اخلي. اوس پوښتنه دلته رازېږي چې د مخپاڼې ګټه اخیستونکي مخپاڼې ته له کومې زاویې ګوري او په کومه برخه کې دوی ته مرستندوی تمامېږي؟ کله کله له ځانه سره فکر کوم چې اکثره کسان وینم د مخپاڼې فعالولو لپاره پیسې مصرفوي خو د مخپاڼې نه سمه ګټه نه شي پورته کولی، کېدای شي د مخپاڼې له سم ګټې اخیستنې نه خبر نه وي او یا هم نپوهېږي چې مخپاڼه یانې څه او د څه لپاره جوړه شوې ده؟

زه په ورځ کې دوه ځلي له مخپاڼي نه ډېره زیاته ګټه پورته کوم، سهار ۷:۳۰ ـ ۹ بجو پورې؛ ځکه په دې وخت کې مخپاڼه ډېره خارم چې ورځني پېښو نه ځان خبر کړم، رسنیزې پاڼې خارم او د نامتو لیکوالانو او سیاسونو مخپاڼې هم ورسره خارم، ځکه کېدای شي داسې یو پوسټ یې خپور کړی وي چې د ویلو وړ وي او ما ته ګټور تمام شي. په دې وخت کې که کومه لیکنه ولرم نو وېب پاڼو ته یې ور استوم، چې لوستونکي ترې ګټه پورته کړي. بل له ۴ ـ ۶ بجو پورې یو ځل بیا مخپاڼه خارم او په دې وخت کې که کوم لیکنه ولرم نو د خپل مخپاڼې لیدونکو ته یې وړاندې کوم او د سهار ټایم په شان یو ځل بیا رسنیزې او نورې پاڼې ګورم. ما سره په مخپاڼه کې داسې کسان ملګري دي چې نامتو لیکوالان، لوړ پوړي او ښه سیاسون دي خو ترڅنګ یې داسې کسان هم شته چې یوې لیکنې او انځور ته د کامېنټ ورکولو تحلیل هم نه لري چې د عامه پوهاوي لپاره یو ځل مې داسې یو پوسټ خپور کړ، ( په مخپاڼه کې ډېر داسې لیکنې خپرېږي چې لوستونکي یې کمرنګه برېښي، یا دوی په لوست باندې نپوهېږي یا هم د نظر «کامېنټ» ورکولو تحلیل نه لري. که یو څو انځورونه له یوې لیکنې سره خپاره شي، ځینې د انځور او لیکنې مفهوم اخلي بیا د خپل نظر پرېږدي، ځینې خو بیا لیکنې ته بیخي نه ګوري، ښکلی، زبردست، انتیک، هسک او تاند... او نور صفتونه پسې کتار کړي. جالبه خو دا ده زموږ کوم ملګري لیکنه یې لوستلې نه ده، انځور ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې کتلي او په کامېنټ کې يې ورته «ښکلی انځور» لیکلی ده خو خبر له دې نه ده چې هغه کس وفات شوی دی چې باید انا الله و انا الیه راجعون ورته ولیکل شي. ځینې بې ولسته امضاء وکړي او ځینې خو بې خلطې درز ورکړي. تمه ده چې مخپاڼه مو د خپل د مالوماتو پانګه وګرځوئ او هره لیکنه مو مخې ته راتله یو ځل یې هرو مرو ولولئ، داسې د مطالعې ځواک مو پیاوړی کېږي.)

اصلي او اساسي موضوع دا ده چې مخپاڼې نه څنګه ګټه اخیستی شو؟ لومړی دا چې د مخپاڼې ډېر روږدیان باید نه شو، که لوستونکي یوو، نو باید د مناسبو لیکنو په لټه کې واوسو او که لیکوالان یو باید مالوماتي لیکنې خپرې کړو، همداسې شاعران هم؛ له مخپاڼې نه ډېره ګټه اخیستنه مو له نورو کارونونه پرېږدي نو باید په ورځ کې یو وخت یا دوه ځانګړي وختونه ورته وټاکو او له مخپاڼې نه سمه ګټه پورته کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مثبت یا منفي

فرض کوو؛ د ژوند په چارو کې یوې لوړې ژورې سره مخ کېږو او د نه شو کولی تصور خپل فکر کې زېږوو، چې طبعاً دا دوه پوښتنې رامخته کېږي چې ایا دا کار زما له وسې پوره ده او کنه؟ زه یې کوی شم او که نه یې شم یا هو او یا هم نه... چې مثبت او منفي پوښتنې مو په فکر کې نښې راولاړېږي، بلاخره له دواړو سره یې یو ډول ارامه تمرکز په کار دی.

مثبت فکرونه د ورو ګامونو په ترڅ کې لوړو پوړیو په لور مو بیایي چې ترڅنګ یې د تمرکز د هو کولو حل لارې رابرسیره کوي. د پوهنتون درېیم سمستر ؤ، چې د سیمنیارونو لړۍ مو راپیل شوې وه، د انګلیسي سیمینار په برخه کې ماته د ښاغلي هنري فورډ یوه مقاله وټاکل شوه، چې باید په راتلونکي اوونۍ کې یې وژباړم او د دریځ په مخه یې زده کړیالانو ته ولولم. د ښاغلي هنري فورډ مقاله مې په پښتو را وژباړله او د ځو مهم ټکي یادوونه یې دلته اړینه بولم، ښاغلی هنري فورډ یو مثبت فکر لرونکی کس ؤ، چې د مستري ګرۍ له کار سره یې ډېره مینه درلوده چې په دې ترڅ کې پلار یې له ده سره مخالفت ښوده خو ښاغلي هنري فورډ له یوې هڅې او مثبت فکر نه وروسته د یوې کارخونې بنسټ کېښود، چې د خپل لومړنی سوداګري یې له دوه موټرونو څخه پیل کړه، ورو ورو د ښاغلي فورډ کارخونه له ماتې سره مخامخ شوه. هنري فورډ تل مثبت فکر درلود، تمرکز یې کاوه او د خپل په هوډ باندې یې ډېره عقیده درلوده، وروسته هنري فورډ فکر وکړ چې باید د موټرونو لپاره داسې څیزونه وکاروي، چې قیمت یې کم خو اصیله ماشین او د خلکو د غوښتنو په مطابق پر کیفیته او په ارزنه بیه مال بازار ته وړاندې کړي. له څو مودې وروسته د ښاغلي هنري فورډ کارخونه بېرته په پښو ودرېده او داسې موټر یې بازار ته وړاندې کړ چې هر څوک کولی شي هغه موټر راونېسي نو په پای کې ښاغلي فورډ سوداګري ګرمه او دومره موټرونه یې وپلورل چې تصور یې نه کاوه. بناً د بریا لپاره مثبت فکر او تمرکز لومړي شرطونه دي چې د لوړو پوړیو حل لارې را انځوروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو منفي فکرونه د هوډونو او تمرکز لپاره خنډونه جوړوي چې د نه شم کوی؟ کرغېړنه ناروغۍ په دماغ باندې مو بده اغېزه کوي. منفي افکار نه دا چې هوډ او تمرکز پرو پاګنده کوي، همدارنګه د بریا او د موخې لارنیوی هم ده. په پای کې سالمه او مثبت فکرونه ګټورې پایلې لري همدا شان له مثبت فکر سره مثبتې خبرې هم د ځان لپاره ګټورې تماميږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یو موټی خاوره

انسانانو د ژوند مدنیت په بېلابېلو مرحلو کې را پیل کړ، دا چې اوس پر مختللي هېوادونه په ساینس او ټکنالوژۍ کې زښته ډېر مختګ کړی، کېدای شي د دوی د څېړنو او د پوهې نتیجه وي، چې غوښتل یې خپل هېواد له نورو پرمختللو ټولنو سره سیال کړي. کله چې زموږ د افغانستان په ځینو سیمو باندې د مغلو لښکر یرغل وکړ نو خوشحال بابا د خپل وطن د یوې موټې خاورو ساتنو لپاره توره یې پورته کړه او پر وړاندې یې د پښتنو ویښتابه لپاره کرښې تورې کړې، همداشان غازي امان الله خان هم د انګلستان لښکر پر وړاندې استقامت وکړ او د خپل هېواد خپلواکي یې ترې واخیسته. هر ځوان باید د خپل هېواد مینه په خپل وجود کې مینده کړي او د نشنلیزم قوه پر خپل رګو کې د وینو په شان جاري وساتي. وطن لکه د مور په شان حیثیت لري، ځکه موږ د خپل هېواد په خاوره کې سترګې غړوو، د خپل په ګرمه غېږ کې موږ لویوي او بېرته همدغه خاوره موږ ته په ژوند کې ځای راکوي او کله چې سترګې نړۍ نه پټې کړو او د ابدي خوب لپاره په غېږ کې مو ویده کوي. نو د وطن یو موټی خاوره باید د خپل د سر په قیمت وساتو او ودانولو لپاره یې هلې ځلې وکړو. دا ترکیب (د هېواد مینه) په خوند او په ډېر کیف سره استاد اول میر په خپله ترانه کې داسې لېږدوي:

وطن جنت نشان دی ګلان په کې کرمه
په ما له روح نه ګران دی ګلان په کې کرمه

دا وطن په موږ حق لري او خپلې سترګې یې ځوان کهول ته نېولې دي چې موږ ځوان کهول باید په پاکه مینه ورته کار وکړو، وطن په خپل غېږ کې موږ ته ځای راکوي نو خامخا د ودانول یې زموږ دنده ده چې هر ځوان باید دا احساس خپل وجدان کې پیدا کړي. موږ ځوانان باید داسې زده کړه وکړو چې په راتلونکي کې د خپل وطن لپاره د خدمت جوګه وګرځو او یو څه ورته ودان کړو، نقاش دې ښکلي منارونه ورته جوړ کړي، لیکوال دې د ولس ویښتابه لپاره کرښې تورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي، ودان پوه دې د وطن ښکلا لپاره دنګ دنګ ودانۍ دې ترسیم کړي، حاکمان دې حق، حق وبولو او د ظلم پر وړاندې شرعي حکم جاري کړي، ولس دې خپل جانان کړي او منفرد ګټو پر ځای ټولیيز ګټو ته دې لومړیتوب ورکړي نو وبه ګورو چې څنګه دا وطن خپل د مینې غېږ له موږ څخه چاپېروي.

پټ او غلی احساس مه مړ کوئ، بلکې د وطن ساتنې احساس مو ژوندی وساتئ، کېدای شي د همدې باتوري لپاره مو الله تعالی وبښي، که موږ خپل پټ احساس ته غوږ کېږدو او هغه ته وده ورکړو، نو باوري یم چې تاسو هم خپل ځان سره لوړوي او ستاسو د رهبرۍ شاهدان به یو، لکه څنګه چې د ادب ځلانده ستوری استاد ګل پاچا الفت وایي:

یو پټ غلی احساس دی چې ارام مې نه پرېږدي
په اور مې سوزوي لکه چې خام مې نه پرېږدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فکر او عقیده

هر انسان شاعر دی خو هر څوک هم شاعر کېدای نه شي. دا خبره مې ولې وکړه چې هر انسان شاعر دی؟ ځکه چې د هر انسان په وجود کې عاطفه او احساس شتون لري، خیال او تصور ورسره مل وي خو د خپل د زړه خبره را برسېرولی نه شي او د الهام په وزرونو باندې الوتلی نه شي. په همدې اساس ځینې ځان ته جرات ورکوي او د خپل د زړه خبره د شعر په ژبه باندې بیانوي خو ځینې بیا همدا د خپل دروني وړتیاوې نه ښکاره کوي او منجمد پاتې کېږي. نو هر انسان د خپل هنر په خپل وجود کې باید ولټوي او هغه رابرسېره کړي.

په مبارزه کې فکر او عقیده خپلې پټې وړتیاوې نه ګڼل کېږي، ځکه د یو مبارز اساسي ټکی همدا فکر او عقیده ده چې باید له دې فن څخه هر مبارز برخمن وي. ددې فن وړتیاوې هلته ښه رابرسېره کېږي چې د فکر او عقیدې یووالی په مبارزه کې رامنځته شي او تل په همدې اساس سره خپل د ژوند موخې وټاکو.

فکر د مبارزې هدف ده او عقیده یې ترلاسه کول دي، که موږ د شتمن کېدو هدف ټاکو او عقیده مو راسخه وي چې باید خپل هدف ته ورسېږو چې وروسته بیا نورو سره مرسته وکړو نو خامخا هدف ته رسېدل شونی وي، فرض کوو؛ خپل موخې ته ورسېدو او ښه شتمن شولو خو په شتمنۍ کې شیطاني وسواس هم له انسان مل وي، که شطاني وسواسو ته مو لاره ورکړه او ناوړې کارونه مو ترسره کړل نو خامخا عقیدې ته مو زیانمن تمامېږي او ټول شتمني به له لاسه ورکړو، کله چې د فکر او عقیدې یووالی نه وي نو هدف ته رسېدل هم ناشونی برېښي. په یوه ټولنه کې ښه مبارز هغه ده چې فکر او عقیده یې راسخه وي او یوازې د ټولنې سمون او اصلاح لپاره خدمت وکړي نو خامخا هغه به بریالی وي. په خپل ژوند کې هم اړینه ده چې فکر مو د پاکې عقیدې څخه برخمن کړو او هدف مو د ژوند سېڅلتیا رامنځته کړي، نه شر. باید د هر انسان فکر او عقیده سپېڅلې وي، که هغه په مبارزه کې وي او که په انفرادي ژوند کې...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له طبیعت څخه یې زده کړئ!

د طبیعت نظام ډېر عجیبه نظام دی، که ورته ځیر شو نو ډېر څه به ترې زده کړو. طبیعت څلور موسمونه لري چې هر موسم کې یې ځانګړي خواصونه پراته دي. ضرورت په طبیعت کې موندلی شو، که باران نه وي نو یو ګل به څنګه شین شي؟ او که لمر نه وي نو ګل به څنګه رنګ واخلي؟ د ځمکې ضرورت باران او لمر ته دی، چې بیا همدا د ښکلي طبیعت سبب ګرځي او ښکلاګانې رامنځته کوي. د مبحت امیزې فضا رامنځته کول د طبیعت یو ښه مثال دی. د مینې یوشانوالی په باران کې پروت دی، باران په ټولو باندې یو شان اوري، که ونه وي، کاڼی وي، بوټی وي، او که ګلونه وي نو په ټولو باندې یو شان اوري، ځکه طبیعت د جنس او رنګ خواص نه مني نو ځکه باران ټول څیزونه یو شان خړوبوي. لمر هم په ټیټ او لوړ باندې یو شان خپل وړانګې خوروي او له ټولو څخه په یو مهال خپلې وړانګې پناه کوي. ولې؟ ځکه چې عدالت باید له لمر څخه زده کړو. همدا باد دی چې طبیعت کې د وصال فضا رامنځته کوي او د بېلتون کرښه نه مني، ګلان یو بل ته رسوي، تر څو یو بل سره غاړه غړې شي.

موږ په خپل ژوند کې باید له طبیعت څخه ځینې څیزونه راغلا کړو او د طبیعت پنځه موسمونو په څېر تغییر منونکي واوسو. په یو بل باندې یو شان واورېږو، تر څو یو ځای سره شنه شو. ضرورت له باران څخه زده کړو، که یو بل باندې ونه ورېږو نو کېدای شي چې له تندې نه مړه شو. عدالت له لمر څخه زده کړو او ټولو ته په یو انداز او په یوه سترګه وګورو. باد هم د وصال فضا رامنځته کوي نو موږ هم باید د باد په څېر د راشه درشې زمینه برابره کړو.

دا چې یو انسان بل انسان ته بند دی نو باید خپل ضرورتونه په ګډه سره حل کړو او ډلییزه ګروپونه رامنځته کړو، چې داسې د یو هدف په ترڅ کې لاره چاره ژر اسانېږي. موږ باید د هغه خوشبو عطر په څېر واوسو چې زموږ له بوی څخه ټول موجودات یو شان ګټه پورته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له (هېڅ) څخه يې پيل کړه!**

هېڅ د ژوند يو داسې فرصت دی چې کولی شو د يوې موخې تکل لپاره له ټکي څخه تر سلو پورې تارګېټ وټاکو او د بريا رسېدو په پار ورته هڅې مو ګړندي وساتو. هېڅ د نشتون مانا څرګندوي خو د ارزښتمنو څيزونو په لاسته راوړلو کې همدا د هېڅ کلمه ده چې تارګېټ ته مو يو پلان طرحه کوو او د فکر په مرسته موږ کولی شو چې له هېڅ څخه تر ارزښتمنو موخو پورې ورسېږو. برايان ټريسي له هېڅ نه تر هر څه پورې داسې څرګندوي، (د موفقو خلکو داستان، يو داسې داستان دی چې له هېڅ يې شروع کړې او ارزښمتنو پايلو ته رسېدلي.) نو د يو کار هوډ لپاره موږ بايد له هېڅ څخه يې پيل کړو چې په داسې توګه په يو کار کې له هېڅ څخه پيلول، د ماتو زاويې سرې کرښې را څرګندوي، چې د همدغو ماتو زاويو ډکول د بريا رسېدو لپاره هېڅ خنډ په مخه نه پاتې کېږي. له هېڅ څخه پيل له مبارزې پرته پرمختګ ورته ناشونی برېښي نو بايد کلک هوډ او د مينې له جذبې سره تکل ولرو.

د ژوند په هېڅ کلمه کې له څلور څيزونو څخه بايد برخمن واوسو؛ مينه، صداقت، رښتيا او عزت هغه مهم ټکي دي چې په ژوند کې موږ ارزښتمنو موخو پورې رسولای شي.

**څو کلن يې؟**

دېپاک چوپرا وايي: (سن فقط يو عدد دی) يانې کال زموږ د عمر استازيتوب کوي، نه! د فکر او عمل؛ موږ زياتره وتلې څېرې ليدلي دي چې په کم عمر کې د لوی فکرونو خاوندان دي او څېرې يې ژر د مبارزې، منطق او استدلال، ليکوالۍ او د حاکميت ډګر ته خپل ځيرکتيا يې ثابته کړې ده نو کال يوازې يو عدد بلل کېږي او زموږ د عمر استازيتوب کولی شي خو زموږ د فکرونو استازيتوب زموږ په ځيرکتيا او هوښيارۍ پورې اړه لري. همدارنګه له هېڅ څخه پيل بايد د عمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



عدد يې مخه ډب نه شي، دا چې موږ د خپل پرمختګ له هېڅ څخه پيلوو او وربانديې فکر کوو، نو همدا پاينتېونه د فکر وړتيا راڅرګندوي. لکه دا بيت:

د کم عمر د مسلک خبره نه ده
ځينې خلک په کچه عمر فنکار شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له وخت سره د ځان جوړښت

د وخت ارزښت خورا مهم ګڼل کېږي، هر څه قیمت لري او هر څیز د بیا راستنېدو شونی وي خو وخت لکه د اوبو یون غوندې یو مسیر طی کوي او د تېرو شېبو بیا راګرځېدل یې یوه معجزه ده، د وخت معجزه هغه راز دی چې ټول واک یې د پنځوونکي په لاس کې وي او موږ یې ګټه اخیستونکي یو، نو له وخت سره د ځان جوړښت هغه سالم فاعل بلل کېږي چې ځان ته یې د وخت په ارزښت کتلي وي چې په داسې توګه د موخو رسېدو لپاره تېزښت ترلاسه کوي. یو کس وایي زه ډېر بوخت یم، حتی سر ګرولو ته هم اوزګار نه یم، داسې انګیزه هغه وخت رابرسېره کېږي چې یو فاعل له وخت سره د ځان جوړښت نه سمبالوي، بلکې بې له مهالوېش او د وخت له وېشلو څخه پرته یوه ورځ تېروي چې ټولنه، کورنۍ او ځان ته به هم خجالت وي. نو اوس دلته داسې پوښتنه را څرګندېږي چې څنګه کولی شو له وخت سره د ځان جوړښت ووېشو؟
موږ باید د یوه ورځ ټایم د خپل کاري کاریکولیم مطابق جوړ کړو او په ترسره کولو کې د وخت پیل او پای ته سالمه مدیریت په نظر کې ونیسو، یو ورځ او یوه شپه ۲۴ ساعته دي نو ۲۴ باید په څلورو کتګورۍ باندې ووېشو چې په داسې توګه د وخت مدیریت د ازاد او مقید ټایم په مطابق ترسره کېږي.

۱) ـ ۶ ساعته موږ باید خوب ته ورکړو: شپږ ګړۍ سالمه خوب موږ ته ارامښت رابښي چې وروسته له خوبه په ارامه دماغ خپل کار ته تمرکز وښیندو، نو سالمه خوب ته باید ارامه فضا رامنځته شي، لکه څرنګه چې د خوب په وخت کې موږ د یوې خونې څراغ مړ کوو نو همداسې موږ باید د خپل دنیاوي فکرونو صندوقونه هم کولپ (قلف) کړو او د ښي ډډې خواته ویده شو، ښي لاس مو د سر لاندې او کیڼ لاس مو کیڼ ډډې او پښې خواته وغځوو چې داسې کړنه نبوي طریقه هم بلل کېږي چې ډېر نور فضلیتونه هم په کې نغښتي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲) ـ ۸ ساعته خپل ورځني کار ته وټاکو: د ۱۰ ګړیو پر ځای په دفتر کې ۸ ګړۍ کار کول بسنه کوي، که موږ فري ټایم د دفتر له وخت څخه لیرې کړو نو همدا اته ګړۍ په پوره توګه زموږ دفتري کارونو ته د پای ټکی ږدي او کولی شو د دوه ګړیو په لړ کې خپل نور کارونه ترسره کړو یا هم کتاب ولولو خو چې وخت ته د ارزښت په سترګو وکتل شي خو که دفتري مسوولیت مو تر غاړې نه وي نو اته یا هم شپږ ګړۍ خپل د زده کړو چاپېریال سره سمبال کړو.

۳) ـ ۶ ساعته ټولنې او کورنۍ باندې ووېشه: ټولنه او کورنۍ هم موږ باندې حق لري چې د هغوی غوښتنو ته ورسېږو. ټولنه باید له خوالو رسنیو څخه وڅارو او د غوښتنو په مطابق یې خپل فعالیت څرګنده کړو، همدارنګه کورنیو ته مو هم باید څېړونکي واوسو، چې د رهبرۍ او مدیریت په ترڅ کې طبابت او غوښتنو ته یې لاس په سپینه ولاړ واوسو.

۴) ـ ۴ ساعته نور هم ځان ته ورکړه: زموږ وجود د مدیریت تر څنګ طبابت ته هم اړتیا لري، د کار وخت، فري ټایم او د عبادت کولو تر څنګ موږ باید خپل خواړو ته هم توجو وکړو، ځکه زموږ روغتیا له هر څه څخه مهم دی نو ځان ته وخت ورکول د فکرونو لړۍ همداسې جاري ساتي او طبابت ته مو هم نظر رانغاړي. هېره دې نه وي، چې د څلورو ګړیو په لړ کې خپل ورزش ته مو هم پاملرنه وکړو، یو نیم یا هم دوه ساعته باید خپل د خوښې لوبو ته ځانګړې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فکري منطق

د يو کار په ترسره کولو کې عمل يو فعل ګڼل کېږي خو دا چې څنګه کولی شو چې د يو کار عمل ته د بریالیتوب جامه ور واغوندو نو دا بیا د فکري منطق پورې تړاو ښندي. هر کار يوې خاکې ته اړتیا ويني او هر کار کلک هوډ او ارادې باندې تکیه کوي، اما کله چې موږ غواړو له هوډ سره عمل وکړو نو دلته باید د فکري منطق نه کار واخلو، ځکه چې فکري منطق موږ سره مرسته کوي چې د يو کار خاکې ته د بریالیتوب نقشه ترسیم کړو؟ فرض کوو؛ زه غواړم يوه سیاسي لیکنه په ادبي طرز کې ولیکم، دا چې ما وغوښتل يوه لیکنه ولیکم، لومړی باید د لیکلو خاکه له ځانه سره جوړه کړم او وروسته وغواړم چې ارادې ته مې د عمل جامه ور واغوندم خو دا چې څنګه کولی شم چې يوه سیاسي لیکنې ته ادبي بڼه ورکړم، مخاطب مې څوک دی او په کوم طرز يې باید وړاندې کړم؟ نو دلته فکري منطق ته اړتیا لرو چې باید له کوم هنر نه ګټه واخلو، چې لیکنه مو سیاسي بڼه او ادبي رنګ ولري.

یا فرض کوو، زه يو ودان پوه يم او غواړم د يو کور نقشه په مډرن ډول ترسیم کړم نو مډرن خامخا د معاصرو بېلډینګونو غوښتونکی وي او ما باید د معاصر تول بېلډینګونه لیدلي وي او د فکري منطق په مرسته له نورو نقشو څخه يوه متفاوته نقشه د يوه ښه بېلډینګ لپاره ترسیم کړم، چې د نوي مډرن (عصر) غوښتنه پوره کړي. هر کار بې له فکري منطق څخه نه بریالی کېږي او که بریالی هم شي کېدای شي يوه استثنا واوسي.

همدارنګه هر کار باید يو هدف لرونکې بڼه ولري، يو کس غواړي د خپل هدف پورې ورسېږي، په لوړو او ژورو کې تکل او مزل کوي او موخې سره يې کلک هوډ هم نغښتی وي. خو په يوه ناڅاپي ماتې سره مخامېږي، ماته ددې مانا نه ورکوي چې هر څه پای ته ورسېدل، بلکې بایلونکی کولی شي چې د فکري منطق په مرسته د تکل خوځښت او د موخې رسېدو لپاره بیا هوډ وکړي او له بلې زاویې څخه نقشه وکښي. منطق د فکري استدلال په مرسته عاقلانه نقشه ترسموي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه لاره موږ ته راښيي چې په تجربو باندې ولاړه وي نو په هر کار کې فکري منطق خورا ګټور پای مومي او د هرې ماتې لپاره فکري منطق د بلې زاويې نظر موږ ته ښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غواړې نړۍ تا وګوري!

هر څوک دا هیله لري چې غواړي نړۍ وګوري او دا هیله د خپل په زړه کې یو راز غوندې ساتي چې ګوندې کله پیسه داره شي بیا به په ټوله نړۍ کې سفر وکړي او غواړي ټوله نړۍ وګوري خو هېڅا له ځانه دا ونه پوښتل چې غواړي نړۍ ما وګوري او دا هغه پوښتنه ده چې انسان د شهرت او پرمختګ تر اوجه پورې رسولای شي. دا چې موږ څنګه کولی شو دې پوښتنې ته ځواب ورکړو؟ (غواړم نړۍ ما وګوري.) ددې پوښتنې ځواب لپاره تکل، موخه او هوډ ته اړتیا لیدل کېږي چې د همدې څانګو په مرسته پرمختګ کولی شو او یو داسې شهرت ترلاسه کولی شو چې موږ نړۍ ته متوجې نه شو، بلکې نړۍ موږ ته متوجې شي.

د نړۍ پاملرنې لپاره فن او هنر هغه لاره ده چې موږ د لوړو پوړیو پورې مزل پرې کولی شو خو توپیر نه کوي که هغه فن لیکوالي وي ، لاسي هنر وي، شاعري وي او یا که نور تخنیکي کارونه وي. هغه شاعران چې نړۍ ورته متوجې شوې ده او د سبک خاوندان دي، لکه عبدالرحمان مومند او خوشحال خټک، چې په دې وروستیو کې دیوانونه یې انګرېزي ژبې ته هم ژباړل شوي دي، دا چې ولې دا دیوانونه انګرېزي ژبې ته ژباړل شوې دي؟ ځکه انګرېزي ادیبان په دې پوهېدل چې د نوموړو شاعرانو په شعرونو کې داسې ښېګڼې شته، چې د ټولنې سمون او اصلاح په کې نغښتې دی. همداسې په لیکوالۍ کې شهید سید قطب، یو داسې څېره ده چې اسلام پالنه، مبارزه او ویښوونکي خبرې یې په خپلې لیکوالۍ کې رانغاړلې دي او بلاخره په همدې لاره کې شهید شو.

په افغانستان کې د تخنیک په برخه کې فني او هنري کارونه کمرنګه ښکاري خو که چا یو داسې شی وپنځوه، چې افغانستان له نورو هېوادونو سره سیال کړي نو خامخا هغه پنځګر ته نړۍ متوجې کېږي او وروسته به له افغانستانه بهر له هغه څخه ګټه پورته شي، ځکه افغانستان ددې په ارزښت باندې نپوهېږي چې څنګه له دې ظرفیتونو څخه ګټه پورته کړي خو ملګري ملتونه ډېر هوښیار دي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړم نړۍ ما وګوري او ما ته متوجې شي! خو په بدیل کې یې هڅه کوم، هدف ټاکم او د خپل هدف لپاره تکل او فولادي هوډ ته کلکه اراده جوړوم او مخکې له هغه چې نړۍ زه وګورم، غواړم نړۍ ما وګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عزت په ذلت مه پلورئ!**

عزت د یو مسلمان د شخصیت او ځان جوړوونې هغه دورني او ظاهري پدیده ده چې په یوه ټولنه کې سرفراز او د احترام وړ پرې بلل کېږي. عزت لرونکي کس ته په هره ټولنه، غونډه او ناسته کې په درنه سترګه ورته کتل کېږي او د ښه نوم خاوند به وي. نوم له عزت سره تړاو لري، فرض کوو؛ یو کس د ښه نوم خاوند نه دی، که موږ ووایو چې پلانکی څنګه سړی ده؟ نو خامخا یو به غږ پورته کړي او وبه وایي، چې هغه یو بې ابرو انسان دی، یانې ذلیل دی او عزت نه لري نو کله چې ذلیل شو نو خامخا د ښه نوم خاوند هم نه دی.

عزت د یو انسان د ابرو حیثیت لري، کله چې بې عزته شولو نو په یوه عامه ټولنه کې بیا وایي چې ابرو مې ټوله لاړه، یانې بې عزته شولم. په شخصیت پېژندنه کې عزت له شهرت سره کلکه اړیکه لري. د ټولنې منل شویو ارزښتونو کې باور هغه مهمه برخه ده، که له لاسه ورکړل شي نو تر لاسه کول یې ستونزمن کار دی. همدا شان عزت هم وبوله... که موږ د بدخشان د جواهرو کارو بار کوو نو خامخا با کیفیته مواد بازار ته راوړو، ځکه بدخشان خو په لعلونو او نورو جواهرو کې ښه نوم لري نو باید د بدخشان په نامه اصلي بدخشاني جواهر بازار ته وړاندې کړو. توپیر نه کوي چې په لومړي ځل مو په کمه بیه وپلورل، که مال مو با کیفیته وي، کېدای شي بل ځل یې په لوړ قیمیت باندې وپلورو. د یو کار لومړی بنسټ لږ په توان باندې کېښودل کېږي خو که یو ځل مو شهرت پیدا کړ نو خامخا ټول پېرودونکي به زموږ جواهر اخلي. همدا شهرت لامل ګرځي چې شخصیت جوړوونه وکړو، د ښه نوم خاوند شو او عزت لرونکي شو، خو باید هڅه وکړو چې د پیسو په بدل په کارو بار کې په نوم باندې مو داغ کېښودل شي او پرې نږدو چې نوم مو د خجالتۍ او سرټیټي لامل وګرځي.

د کیم وو چونګ په زرینې لارې کتاب کې راغلي دي، ( ژوند کې ځینې داسې ارزښتونه شته چې انسان یې باید هېڅکله ونه بایلي، په ټولو کې ډېر ارزښتمن یې عزت او باور دی. که د ژوند بایلل مرګ دی، نو د عزت او باور بایلل هم په ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ستاسې د ژوند پای دی.) تر ټولو لېونتوب کار دا دی چې خپله مو په نوم باندې تور داغ ولګوو، ځکه عزت د باور نښه ده چې له منځه تلل یې د انسان شخصیت زیانمنوي، په یوه ټولنه کې شهرت مو له لاسه ځي او ذلیل کېږو، نو موږ اړ یو چې د عزت او د ښه نوم ژغنته ډېره ساتنه وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عبادت او دعا

عبادت د حقیقي مسلمان هغه خصلت دی، چې تل د الله تعالی په یاد کې بوخت وي. عبادت د هر انسان له ښو عاداتو څخه شمېرل کېږي چې په دې عادت باندې د دنیا او اخرت نیکي او رحمت تر لاسه کوي. عبادت د یو مسلمان په اعمالو کې هغه امتیاز دی چې ددې په واسطه موږ الله تعالی ته نژدې کېدای شو، گناهونه مو پاکېږي او نفس مو د الله تعالی په مغفرت سره تزکیه مومي. هر عبادت د خپل ځانگړتیاوې لري خو اذکار یا د الله تعالی ذکر کول ښه عمل بلل کېږي چې په اذکارو کې بیا خفي اذکار سنت او ډېر ثواب لري، چې دا ځانگړنه د پیغمرانو او اصحابو کرامو ځانگړنه بلل کېږي. الله تعالی خپلو بنده گانو ته وایي: ( تاسو ما یاد کړئ چې زه تاسو یاد کړم.) په عباداتو کې ټول اعمال غوره خو خفي اذکار بیا سنت طریقه بلل کېږي چې ددې کړند (فعل) په مرسته که موږ د الله تعالی ذکر وکړ نو الله ج به موږ هم هرو مرو یاد کړي، موږ سره به مرسته وکړي او تل به بریالي انسانان واوسو.

د ژوند په برخه کې د یو مسلمان بله ځانگړنه دعا کول او دعا ورکول دي، که موږ مور او پلار یاستو نو باید خپل بچیانو ته د ښې لارې دعا غوښتونکي واوسو، نه دې بدې لارې؛ او که ځوان یا بالغ یاستو نو باید د دعا په مرسته د الله تعالی څخه د دنیا او اخرت د کامیابۍ غوښتنه وکړو او له نورو مخورو مشرانو نه وغواړو چې موږ ته د کامیابۍ لارې دعا راکړي.

دعا د الله تعالی له دربار څخه د حاجتونو پوره کولو لپاره ترسره کېږي او دا غوښتنه یوازې له الله تعالی څخه باید وشي، ځکه هغه واحد ذات د عبادت، حمد او د ستاینې لایق دی. الله تعالی په فاتحې سوره کې د واقعي مسلمان ځانگړنه داسې بیان کړې ده، ( ایاک نعبد و ایاک نستعین) یوازې ستا عبادت کوو او یوازې له تا څخه مرسته غواړو. نو هر انسان باید په خپل ژوند کې د عبادت کولو او دعا غوښتلو عادت په خپلو اعمالو کې پیدا کړي، ځکه دا ځانگړنه لامل گرځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په دنیا او اخرت کې تاند او بریالي انسانان واوسو. ځکه چې حدیث شریف دی (الدعاء مخ العبادة) یانې، دعا د عبادت مغز دی.

جکسون براون په خپلو مهمو خبرو کې دا هم وایي: دعا وکړه، خو نه د باطلو شیانو د زیاتېدو لپاره، بلکې د عقل او زړورتوب د لاسته راوړلو لپاره لاسونه لپه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## صبر او حوصله

الله تعالی په ژوند کې یو حالت خلق کړی نه ده، بلکې له خوږ سره یې تریخ هم رامنځته کړي دي، چې ژوند په دوو حالتونو باندې تعریف مومي، خوښي او ناخوښي بلل کېږي، ځکه چې یو حالت سترې کېدونکی وي. صبر او حوصله د ژوند په داړو حالتونو کې خوږه مېوه ګڼل کېږي، کله چې د الله تعالی له لوري پر موږ باندې د خوښي او ناخوښي لوروینه کېږي نو موږ باید د دواړو حالتونو پر وړاندې صبر او حوصله وکړو. هر انسان چې په ژوند کې ډېر خوښي تر لاسه کوي نو د زیاتې مستۍ او چیغو څخه دې ډډه وکړي او همدا شان کله چې کوم بل انسان ته د ناخوښۍ او غم خبر ورسېږي نو د زیاتو چیغو او اسوېلو څخه دې هم ډډه وکړي او نوموړو انسانانو ته په کار ده چې د احساساتو له کنټرول څخه دې کار واخلي، صبر او حوصله دې وکړي او په هر حالت کې یوازې د الله تعالی شکارانه دې پر ځای راولي، ځکه چې د صبر او حوصلې مېوه ډېره خوږه وي او هر سختیو پسې اساني راځي، نو بې له شکه چې الله تعالی له صبر کوونکو سره مل وي. همدارنګه د ژوند موخو او بریا لپاره صبر او حوصله لومړی شرط ګڼل کېږي، کله چې موږ د یو کار پیل کوو نو باید د بریا ترلاسه کولو لپاره یې له صبر او حوصلې څخه کار واخلو، ځکه چې د بریا مخې ته ماته هم وي او هرې ماتې پسې بریا نغښتې ده؛ خو صرف د هر بریا لپاره د لار بدلون ته اړتیا لیدل کېږي او همدا د لار بدلون بیا صبر او حوصلې سره تړاو ښندي، تر هغو چې بریا ترلاسه کړو. کله چې موږ د اتلانو، شتمنو، د اصحابو او پیغمبرانو د ژوند کیسې ولولو نو بیا راڅرګندېږي چې دوی په ژوند کې څومره سختې ګاللي او کومو ستونزو سره مخامخ شوې دي خو بیا هم دوی یې پر وړاندې استقامت ښودلی او پر هر حالت کې د الله تعالی شکرانه یې ادا کړې ده، چې د صبر او حوصلې په اړوند داسې ټپه ده:

صبر کوه، صبر صابر دی
د صبرناکو خلګو خدای ملګری وینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ښه نوم په نړۍ پرېږده!**

د ښه ژوند زده کړه د نورو فني زده کړو څخه غوره بلل کېږي او دا زده کړه د بریالي او د ښو انسانانو سره په ناسته او پاسته کې ترلاسه کېږي. هر انسان په ژوند کې باید د ښه ژوند راز په لټه کې واوسي ځکه چې د ښه ژوند راز هوساینه او بریالیتوب رامنځته کوي او دا بې څه نه ده، بلکې په زیار او کوښښ سره میندل کېږي او د انسان زیار د هیلو لاسته راوړلو لپاره ګټور پای مومي، نو بناً هر انسان باید کوښښ وکړي چې ښه نوم په نړۍ پرېږدي او دا د انسان د زیار او ارادې پورې تړاو ښندي. د ښو نومونو او د حسنه اخلاق لرونکي انسانان هېڅکله نه مړه کېږي، یانې جسماً هغوی به په ژوند کې شتون ونه لري خو په ښو کارونو کې زیار یې لامل کېږي چې ښه نوم په نړۍ پرېږدي او یاد یې د هغو کسانو په ذهن کې تلپاتې وي چې د علم او هنر خاوندان وي، ځکه چې زیار ښکونکی په هر مسلک کې چې کار کړی وي نو د نظر خاوندان یې په همغه مسلک کې ډېر خوښوي او همدا زیارښکونکی د نظر خاوندانو په ذهنونو کې د تل لپاره پاچاهي کوي او یاد یې تلپاتې وي.

بناً په ښو کارونو کې باید تل ونډه واخلو او زیار وکښو چې دې نړۍ ته د خپل نه هېرېدو لپاره یو څه یادګار پرېږدو او دا یادګار باید تلپاتې وي، همدا هڅې زموږ د زیار پورې تړاو لري چې ښه نوم په نړۍ پرېږدو. ښاغلي سمویل سمایلز د هغو کسانو په هکله داسې څرګندونې لري چې یاد یې تلپاتې وي او د نظر خاوندانو په زړونو کې پاچاهي کوي او همدارنګه د ښه نوم لپاره یوه توښه په نړۍ پرېږدي.

ښاغلی سمایلز وایي: ( هغه وګړي چې اوس یې تاسې نومونه په قدر اخلئ، هغوی چې د پوهې او هنر په ډګر کې نومیالي او ستر ګڼل کېږي، هغوی چې نن یې تاسې نظرونه ته احترام لرئ او د قدر په سترګه ورته ګورئ او هغوی چې له مرګ وروسته اوس هم د وګړو پر زړونو پاچاهي کوي؛ دوی په کومې ځانګړې ډلې، قوم او نژاد پورې تړلي نه وو، چې د هغوی په وسیله یې دومره پرمختګ کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي او دومره به ستر شوي وي، هغوی لکه تاسې غوندې عادي انسانان وو، څوک له ښوونځي راوتي، ځينې يې د پلورنځي کارکوونکي وو، ځينې يې په خېمو کې زېږېدلي دي او ځينې يې هم په پاچاهي ماڼيو کې چوپړ کوونکي وو، له دې ټولو پرته د الله تعالی ډېر پيغمبران ډېرو غريبو کورنيو کې زېږېدلي دي، هغوی زيار ايستلی دی، غربت، لوږې، تندې او نورو يې هم مخه ډب نشوه کړی، بلکې دې ستونزو او زحمتونو هغوی نور هم هڅوولي، چې زيار وباسي، زحمت وګالي، د خپل زړه ټول ځواک له ځان سره ملګری کړي، تر څو په ستونزو باندې بريالي شي.) نو بايد موږ هم له همدې پاينتونو څخه پند واخلو او زيار وکښو، چې زموږ په نه شتون کې بايد ډېر څيزونه له موږ څخه پاتې شي او يو ښه نوم په نړۍ پرېږدو، تر څو زموږ د نه هېرېدو لامل نه شي، خو دا ټول څيزونه زموږ په هڅو، ارادو او له موخو سره تکل باندې شونی وي، لکه شاعر هم وايي:

ښه نوم په نړۍ پرېږده<br>ژوند د مرګ لپاره نه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لوری

په ژوند کې د هر انسان لپاره لوری لومړی کرښه بلل کېږي او هر انسان باید په ژوند کې یو ټاکلی لوری ولري چې پر هغه باندې باید مزل وکړي او د خپل ټاکلي هدف او موخې ته ورسېږي. فرض کوو؛ ستاسو له منځ څخه یو کس لیکوالي پیل کړه او ډېر په مینه سره خپل مسلک ته ژمن وي نو په لیکوالۍ کې ښکلي داستانونه او لنډې کیسې لیکي، دا چې نوموړی کس لیکوالي کوي او په لیکوالۍ کې داستانونه لیکي نو خامخا داستانونه یې لوړ خیال او ژور تصور ته اړتیا ويني چې باید یو لیکوال له دې تخنیک څخه برخمن وي او همدارنګه د کیسې لیکنې هنر به هم ورسره مل وي، خو لیکوال چې لیکنې چمتو کوي او ورو ورو د کتاب په ګاڼه یې سمبالوي نو لیکوال، لیکوالي ددې لپاره نه کوي چې ژر د خپل کتاب د چاپ په ګاڼه سمبال کړي، خو د تل لپاره یې هم بې چاپه پرېښودی نه شي او یوازینۍ موخه به یې د مخاطبینو لپاره ښه مطالب وړاندې کول وي. ددې ټولو خبرو مطلب دا دی، چې هر انسان باید د خپل په ژوند کې یو لوری ولري، ولو چې هر مسلک کې واوسي او د هر مسلک لوری بیا یوې لاسته راوړنې ته انتظار کاږي، چې په داسې توګه که یو لیکوال په لیکوالۍ کې د خپل موخه او لوری تر لاسه کړي او د هنر حد ته ورسېږي نو پوه شئ چې نوموړی کس د خپل مسلک کې یو بریالی شخص بلل کېږي، که بیا وروسته له څو کالونو څخه کومه نتیجه یې لاس کې نه وي، نو له هغې وروسته باید پوه شو چې کوم لوری ما ټاکلی زما لپاره یو اصل نه دی او زه ددې لوري وړتیا نه لرم، وروسته له هغه باید د خپل لوری یوې مناسبې لار خوا ته بدرګه کړو. نو په پای کې په څرګنده توګه ویلی شو چې هر انسان باید په خپل ژوند کې هغه لوری وټاکي چې وړتیا او توان یې ولري.

### پرمختګ:

د ژوند په ټاکلي لوري کې پرمختګ هم ډېره ونډه لري. موږ پرمختګ هغه وخت کولی شو چې د ژوند داسې لوری وټاکو چې وړتیا او توان یې ولرو او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتلونکي کې د مختګ مزه یې وڅکو. نو د پرمختګ لپاره درې شرعي خبرې باید په ذهن کې ځای کړو.

**لومړی:** په تېرو پسې ونه ګرځو؛ تېر باید په تېرو پرېږدو، هغه یو مشهور متل دی، چې تېر شو نو هېر شو. ددې خبرې مطلب دا دی چې د تېرو وختونو لپاره موږ نه شو کوی چې د نن ورځې ګړی او شېبې پرې بې ځایه تېرې کړو او هر څه د تېر په شان په تریخو واړوو، نو بناً له تریخو یادونو څخه تجربې پورته کړو او د نن ورځې لپاره یې وکاروو او پرې پام وکړو. همدارنګه هغه اوښکه چې له سترګو لوېږي نو بېرته یې په سترګو کې ګرځولی نه شو، هغه لمر چې د غرونو تر شا لوېږي بېرته د راختو لپاره یې څه نه شو کوی، هغه ماشوم چې د مور له ګېډې څخه بهر راوځي نو د بېرته ستنېدو توان یې نه لرو، نو بناً د تېرو یادونو یادوول څه ګټه نه ښندي خو له تجربو څخه یې د نن لپاره مثبته ګټه پورته کولی شو.

**دویم:** یوازې نن؛ د نننۍ ورځې ګړۍ باید په مهال وېش باندې ووېشو او د نن له ګړۍ څخه د کال په څېر او د شېبو څخه یې د میاشت په څېر ګټه پورته کړو. کله چې سهار له خوبه راپاڅېږو نو باید داسې ژوند وکړو چې ګواکې د ژوند پای ورځ مو ده، د نن ورځ لپاره په کار دا دی چې باید ښه اخلاق، عبادت او د قران کریم تلاوت خو بیخي هېر نه کړو، د پرمختګ هڅې مو د نورو ورځو په شان د نن لپاره هم ګړندي وساتو او راتلونکي لپاره خدای مهربانه ده چې څوک ژوندي او څوک مره؛ خپګان له منځه یوسو او یوازې نن د ژوند وروستۍ ورځ وبولو نو له دې ورځ څخه د خوشالۍ لپاره ښه ګټه پورته کړو او د نن لپاره داسې ژوند وکړو چې ګواکې همدا نن پیدا شوي یاستو او همدا نن مره کېږو، همداشان د نن له پیل څخه تر پایه پورې باید له ځان څخه پوښتنه وکړو چې نن مې څه وکړل او څه لاسته راوړنه مې درلوده.

**درېیم:** پرېږده چې راتلونکی راشي؛ راتلونکی یو غیب پال بلل کېږي او په غیب باندې بغیر له الله ج څخه بل هېڅوک په دې باندې قادر نه دي، خو په هغه کس باندې چې الله تعالی دا وړتیا لورولې وي. راتلونکی راځي او د هغه راتلو باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې ځایه تعبیرونه ښه نه ګڼل کېږي نو د راتلونکي راتلو لپاره باید ښه راغلاست ووایو او په لویه سینه باندې ورته د زغم ټټر ولګوو او چمتوالی یې د بریالیتوب نښه ده نو د پرمختګ لپاره باید تېر هېر کړو او نن لپاره ښه ژوند وکړو او راتلونکي ته باید ښه راغلاست ووایو.

**د پرمختګ مخنوی:**

هر انسان په ژوند کې یو ټاکلی لوری لري او خامخا مختګ کوي او انسان بې له لوري او بې له پرمختګ څخه یو متحرک جسم نه ګڼل کېږي نو بیا هغه ته بې متحرک یا مړ جسم وایي. موږ باید په ژوند کې د پرمختګ لپاره کسان وهڅوو او باید د هغوی د پرمختګ مخنوی ونه کړو، ځکه چې زموږ مخنوی ددې سبب کېږي چې نوموړی کس د پرمختګ لپاره کلک هوډ ونیسي او په کمه موده د پرمختګ لیدونکي به یې واوسو، نو باید د خپل د تجربو او د علم په اساس نور کسان د مختګ لپاره وروزو او هڅول یې باید مخ پر وړاندې لپاره وي، نه! د مخنوي لپاره؛ دا یوه ثابته خبره ده، هغه کسان د مختګ پوړیو ته رسېدلي چې د ټکر او د مخنوي سبب یې نور کسان شوې دي او هغه ورته کلک هوډ او ټینګه اراده نېولې او مخ پر وړاندې رهې شوی، نو هڅه وکړئ چې د پرمختګ لپاره کسان وهڅوئ، ګنې د نورو د پرمختګ مخنوی ډېر ذلیلتوب او شا تګ لري چې په داسې کړنو باندې موږ مختګ کولی نه شو خو مقابل لوری د لوړو پوړیو پړاونو به طی کړي او موږ به یې لیدونکي واوسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مخ مه اړوه!**

هیله د هر انسان لپاره خیالي مانۍ جوړوي، همدغه مانۍ د هر انسان په خیال کې رغېدلې وي، ځینې ورته لاس اوږد کړي او خپلو هیلو ته ورسېږي خو ځینې ترې نهیلې شي او مخ ترې واړوي. یو وخت په کورس کې موږ ته استاد د ګېدړې او انګور کیسه کوله، استاد ویل: چې یوه ورځ ګېدړه یوه کور ته په غلا لاړه او ډېره لوږه وه، ګېدړه په کور کې ګرده وګرځېده خو د خوړلو لپاره یې هېڅه پیدا نه کړل. ناڅاپه پام یې انګورو ته شو، چې په تاکونو کې د انګورو غټې خوشې راځوړندې وې، ګېدړې غوښتل د انګورو خوشو ته خېز را واچوي، خو له بده مرغه ګېدړه نه بریالۍ کېده. په څو وارو یې هڅه وکړه خو د انګورو خوشو ته نه رسېده. ګېدړې له ځان سره وویل: ځه! مړه پسې ګرځه مه، کېدای شي انګور تروش وي.

دا خو یوازې یو مثال نه ؤ، بلکې استاد غوښتل موږ ته وپوهوي چې هر انسان باید خپل ژوند کې نهیلی نه شي او تل باید تصور وکړي چې داسې یو خالق لري چې دربار یې ډېر لوی دی او د پادشاهي خزانه یې هېڅ تمامي نه لري. باید لاسونه لپه کړي او د خپل خالق له درباره د بریا، د هیلې، د خوښۍ او ښکلي ژوند تقاضا وکړي. انشاءالله! هر کله یوه هیله شته او هر کله باید یوه هیله ولرو، ځکه د الله تعالی دربار ډېر لوی دی او عبدالرحمان بابا هم وایي، چې په هره سختۍ کې استقامت په کار دی او تل باید یوه هیله ولرو او هېڅکله مخ اړوونکي او نهیلي نه شو. لکه دا بیت:

لکه ونه مستقیم په خپل مکان یم
که خزان راباندې راشي که بهار

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځان ته کتنه

یوه ورځ مې له ملګري سره د زړه خواله کوله. ملګري مې رانه وپوښتل، ایا تر اوسه پورې دې خپل ځان ارزولی دی، چې څو منفي او مثبت ټکي لرې؟ ما ویل څنګه ارزونه؟ یانې د نورو له خوا دې تر اوسه پورې ځان ارزولی ده او که نه؟ زه ورته په هو او نه کې پاتې شوم. بیا یې له ما نه وپوښتل چې زه څنګه هلک یم؟ ما هم ورته خوله خلاصه کړه او ټوله ستاینه مې ورته وکړه: چې ډېر ښه هلک یې، په ملګرتیا کې مثال نه لرې، ډېر خرابات او نر سړی یې... ناڅاپه راته یې کړل: بس بس بس! ستا ارزونه هلته به سمه وي چې زه درته یوه سپینه پاڼه در کړم او ته په یوازې سره کینې او زما منفي او مثبت پاینټونه راته په ګوته کړې. بیا یې خپل د دفتر یوه کیسه راته وکړه، ویل یې: یوه ورځ ما په دفتر کې د نوټ وړې پاڼې ووېشلې او له هر کس نه مې هیله دا وه چې زما منفي او مثبت کړنې راته په ګوته کړي، یانې هر څوک د خپل له انده زما کرکټرونه وه ارزوي. وروسته له یوه ورځ نه ما خپلې د ارزونې پاڼې را ټولې کړې. یوه شپه ورته په کراره کېناستم او خپل د فیډ بک ارزونې مې ولوستې. هره پاڼه مې کته. لږ به له ځان سره موسکی کېدم، ځکه داسې جملې په پاڼه کې لیکل شوې وې، چې هلته عقدوي چلند ترسره شوی ؤ، خو ځینې داسې جملې هم په کې وې، چې په واقعي ډول زما د منفي او مثبت کړنو ټکي په کې په ګوته شوې ول، چې لا تر اوسه زه ورته متوجې شوی نه وم. وروسته مې خپل مثبت او منفي کړنې له یو بل څخه بېلې کړې. د خپلې مثبتې کړنې مې وستایلې او پرېکړه مې وکړه چې لا نور هم پراختیا ورکړم او منفي مې په همغه شپه هېرې کړې او له ځان سره مې ژمنه وکړه چې د ژوند په معاشرت کې ترې ډډه وکړم.

نو ځان ارزونه یا فیډ بک هغه کړنه ده چې موږ خپل ځان ته متوجې کوي او خپل ځان پرې ارزوو، چې څومره تشې او څومره بارزې ځانګړنې لرو او همدا تشې ایا د نورو د خپګانو لامل کېږي او که نه؟ ایا زما بارزې ځانګړنې څومره کسان جذبولی شي او څومره له ځان نه لېرې کولی شي. ځان ارزونه یا فیډ بک

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته باید د مالوماتو په سترګو وکتل شي، ځکه بیا موږ کولی شو چې له هغه ایډیاوو او اندونو څخه ګټه پورته کړو چې نور کسان یې زموږ پر وړاندې لري او خامخا همدا اندونه زموږ لپاره د بدلون سبب ګرځي او موږ ته خامخا ګټور تمامېږي. بناً ځان ارزونه لامل کېږي چې خپل منفي او مثبت کرکټرونو ته د وخت په غوښتنو سره سم بدلون ورکړو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اخځليکونه:**


۱ ـ صفا، مصطفی.۱۳۹۲.(طاقت ښښونکي فکرونه) ژباړن. مازيګر خپرندويه ټولنه.

۲ـ شرما، روبين.ته چې ومرې څوک به ژاړي؟. ژباړه: ياد، مير احمد.

۳ـ القرني، عايض. ژباړه: ګمشادزهي، محمد ګل.۱۳۹۴.غم مخور. کتابخانه عقيده.

۴ـ زه ولې وروسته پاتې شم، ليکوال: نور عمر.

۵ـ احمدي، نصير احمد.۱۳۹۲.جوجو (ناول). لر او بر.

٦ـ د ګل پاچا الفت نثري کليات.

۷ـ ادبي فنون، ليکوال: پښتون اقا شېرزاد.

۸ـ معروفي، الحاج مولوي حبيب الله. بريالی انسان.

۹ـ ټريسي، برايان. ژباړه: الکوزی، حميده امين.۱۳۹۹/۲۰۱۸. سل کاله ژوند وکړئ!. اکسوس کتابپلورنځي.

۱۰ـ دُرانی، ډاکټر باقي.۲۰۱۳.د فکر ټال(د سرېتوب فلسفه).الحق پرېس لاهور.

۱۱ـ چونګ، وو کيم. ژباړه: ياد، مير احمد. دانش خپرندويه ټولنه.

۱۲ـ شينواری، صابر.۲۰۰۸.انسان په افسانه کې،(انسان په فاصله د انسان).پښتو نټ.

۱۳ـ القرضاوي، ډاکټر يوسف.۱۳۹۷.وخت د مسلمان په ژوند کې. ژباړه: فراز، آر، ايس.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library